ليکوال: دکتور مصطفی السباعی
ژباړن: داد محمد ناوک

# يو لمر او څلور ستوري

د تنــکيو ځوانـانو لپاره

Scanned with CamScanner

محمد نعیم صدیق
0770929904
افغان بلازه ریررمسی
شیخ زاید کتاب پلورنځی
SHAIKH ZAYED BOOK STORE

# یو لمر

# او څلور ستوري

د تنکیو ځوانانو لپاره

لیکوال

دکتور مصطفی السباعی

ژباړن

داد محمد ناوک

الحکمت کتابتون اړیکه 0765697124

# يو لمر او څلور ستوري


ليکوال: دکتور مصطفی السباعي

ژباړن: داد محمد ناوک

د چاپ شمير: ۱۰۰۰ ټوکه

خپروونکي: علمي خپرندويه ټولنه / گرديز

کمپوز: په خپله ليکوال

چاپ کال: ۱۳۹۶



د چاپ ټول حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي


د ترلاسه کېدو ځايونه

علمي کتاب پلورنځی


پکتيا، د گرديز ښار، غزني لين، د عبدالحميد گرديزي مارکېټ، افغانستان

اړيکشمېرې: ۰۷۷۲۹۳۶۳۴۱-۰۷۷۲۲۸۸۱۹۰

برېښناليک: ilmiketabtoon@yahoo.com


پکتيا: اوښتون خپرنديه او کلتوري ټولنه

خوست: رحيمي کتاب پلورنځي

جلال آباد: مومند کتاب پلورنځي

جلال آباد: گودر کتاب پلورنځي

کابل: خيبر کتاب پلورنځي

کابل: مستقبل کتاب پلورنځي

کندهار: صداقت کتاب پلورنځي

هلمند: سيدجمال الدين کتاب پلورنځي

بسم الله الرحمن الرحیم

الحکمت کتابتون اریکه 0765697124

Scanned with CamScanner

# ډالۍ

- خپلې ادې ته، چې خپل پیغمبر یې راښوودلی!
- محمد عمر او ادې ته یې، چې دواړه ډاډ راکوي!
- مجاهد کتابپلورنځي ته، چې په پکتیکا کې د ځراغ مانالري!
- استاد سلطانخېل ته، چې دینې مطالعه یې راوښوده!
- رښتیا مجلې ته، چې فکر مې خپروي!
- او تا ته، چې د قرآن د حاکمیت لپاره خپلې غوښې شیندې!

ناوک.

## لړلیک

| موضوع | مخ |
|---|---|


ناوک چې ما ته معلوم دی.......................... أ

ما ویل........................................ ب

د لیکوال لنډه پېژندنه............................ د

د مؤلف مقدمه.................................. ط

تر پیغمبرۍ وړاندې ژوند.......................... ۱

له مکې د باندې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم سفرونه.... ۴

حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د حرا په غار کې.............. ۴

حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم بعثت....................... ۵

لومړني مسلمانان................................ ۷

حبشې ته د مسلمانانو هجرت........................ ۹

پر حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم او بني هاشمو اقتصادی بندیز...................................... ۱۰

د ابوطالب او حضرت خدیجې رضی الله عنها وفات.................. ۱۰

د معراج پېښه.................................. ۱۱

د قبیلو بلنه.................................... ۱۲

مدینې ته هجرت................................. ۱۳

مدینې ته د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم ننوتل.......... ۱۶

په مدینه کې د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم لومړی کار.. ۱۶

د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم غزاگانې................ ۱۷

د بدر غزا..................................... ۱۸

د بدر د غزا پایله................................ ۲۰

د احد غزا..................................... ۲۰

موضوع
مخ


د بنی نضیر غزا ........................... ۲۳

د احزاب غزا ............................. ۲۵

د بنی قریظه غزا........................... ۲۶

د حدیبیې غزا............................ ۲۷

د خیبر غزا............................... ۳۱

د مؤته غزا............................... ۳۲

د مکې فتحه............................... ۳٤

د حنین غزا............................... ۳۷

د تبوک غزا .............................. ۳۸

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفات........................ ۳۹

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه....................... ٤۲

ژوند یې په څو کرښو کې:.............................. ٤۲

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه نوم او نسب ............ ٤۳

تر اسلام وړاندې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه (رض) ځینې ځانګړنې..................................................... ٤۳

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه اسلام...................... ٤٤

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت .................. ٤٤

حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه ......................... ٤٦

د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ژوند په څو کرښو کې:٤٦

د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه نو م او نسب .......... ٤۷

د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ځانګړنې.......... ٤۷

امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د جاهلیت په وخت کې٤۸

## لړلیک

موضوع | مخ


د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه مسلمانېدل........۴۸
له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه یاري ..........................۴۸
امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په خپل خلافت کې...۵۰
حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه ..........................۵۲
د حضرت عثمان رضی الله عنه ځینې ځانګړنې......................۵۳
د حضرت عثمان رضی الله عنه مسلمانېدل ........................۵۳
حضرت عثمان رضی الله عنه په خپل خلافت کې .....................۵۴
حضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه.............................۵۶
زوکړه او ماشومتوب ..........................................۵۷
د حضرت علی رضی الله عنه ځینې ځانګړنې .......................۵۷
د حضرت علی رضی الله عنه اسلام ...............................۵۸
حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او حضرت علی رضی الله عنه......۵۸
د حضرت علی رضی الله عنه خلافت ...............................۵۹
د حضرت علی رضی الله عنه شهادت ...............................۵۹


الحکمت کتابتون اریکه 0765697124

## ناوک چې ما ته معلوم دی...

ځوان دی، پوهنتون يې سر خلاص کړ، ليکنې کوي، فيسبوک او په فيسبوک کې رښتيا پاڼه چلوي. رښتيا بلاګ پالي او رښتيا مهالنۍ خپروي.

نر مسلمان دی، سپين غږيږي، ځکه خو ټکيږي، لاندې کتابونه يې چاپ شوي:

- مکتبي (ناول)
- د لنډې کيسې کرکټر (څيړنه)
- مېخونه (لنډې کيسې)
- ارواځه ده؟ (څيړنه)
- د ماښام ستوري (تذکره، ګډکار)
- په قرآن کې اروا پوهنه (ژباړه)
- او همدا کتاب.

پر لاندې کتابونو لا کار کوي:

- زواکه (څيړنه)
- پښتو لنډه کيسه (څيړنه)
- نو بيا! (ولسي کيسې)

تر څو چې زه يم، دي دې کامياب وي.

په مينه

و،س.

## بسم الله الرحمن الرحيم

## ما ويل...

نحمده و نصلی علی الرسوله الکریم

امابعد:

د پردیو تبلیغاتو پرلپسې ډنډورو مو د تنکیو ځوانانوذهنونه تر دې اندازې غلام وروزل، چې تل پکې فلمي لوبغاړي نخښېږي. په داسې شرایطوکې چې دین او دینپوهنه یواځې په یوه قشر پسې محدود ګڼل کېږي، د اسلام د ستر لارښود جناب حضرت محمد مصطعی صلی الله علیه وسلم له سیرت سره بلدتیا تر بل هر وخت ډېره اړینه ده. زه تل دا فکر کوم، چې په اوسنیو ترینګلو حالاتو کې د اسلامي نړۍ د یووالي او له دې افتونو نه دخلاصون یواځینۍ لاره د قرآن او نبوي سیرت سپېڅلې کړنلاره تعقیبول دي.

ګرانو وروڼو او خویندو! جناب حضرت محمد صلی الله علیه وسلم زموږ د ژوند په هره برخه کې تر ټولو غوره نمونه ده، هغه جناب یو مهربان پلار، یو مسکی مېړه، یو زړور قومندان او یوکلک ملګری و. ځکه خو ماهم مناسبه وبلله چې د ستر اسلامي مبارز دکتور مصطفی السباعی رحمه الله یو وړوکی کتاب، چې د تنکیو ځوانانو لپاره یې لیکلی وژباړم. دغه کتاب چې د نبوي سیرت لنډې یادونې پکې راغلي دي، د تنکیو وروڼو او خویندو لپاره ښځې مناسب او ډېر

خوندور دی، په دې تمه چې مادغه ستر امانت تر تاسې سم د
رسولی وي.
د دې کتاب د چاپ په برخه کې د علمي کتابتون له مسوولینو نړ
مننه، چې تر تاسې يې در ورساوه،د و،س له جالبې پېژندنې مننه ا
په پای کې له خپلو ټولو مخلصینو چې مطالعې او کار ته مې هڅوي
مننه.

په ټوله نړۍ کې د قرآن د حاکمیت پر تمه!

داد محمدناوک

الحکمت کتابتون اړيکه 0765697124

## د لیکوال لنډه پېژندنه

دکتور مصطفی سباعی د اسلامي تاریخ یوه ځلانده څېره وه چې د اسلام هر اړخ یې په خپل ژوند کې ښه تعبیر کړی. هغه عالم، مجاهد، مبارز او سیاستوال و، له ماشومتوب نه نېولې تر وفات پورې یې اسلام ته خدمت کړی.

بشپړ نوم یې مصطفی بن حسنی السباعی دی. په کال ۱۹۱۵م کې د سوریې د حمص ښار کی زېږېدلی، ددینی علوموزده کړې یې له پلار او نیکه څخه چې دینی عالمان وو کړې دی او ددوی کورنی له پېړیو، پېړیو راپدېخوا د حمص د جامع جومات خطیبان وو.

استاد سباعی په ماشومتوب کی قرآن حفظ کړ او فقه یې له خپل پلار مرحوم څخه زده کړه او پدی موده کې له پلار سره د لویو علماو مجالسو ته تللی، د هغو لویو علماو له جملې څخه چې استاد سباعي ورسره کتلي: طاهر الریس، سعید الملوحی، فایق التاسی، راغب الوفائي او... چی د مرحوم استاد په شخصیت یې ژوره اغېزه وکړه او له علم سره یې ډېره مینه پیدا شوه، همدا علت و چی ډېری وخت به د الله جل جلاله په عبادت او د علم په حاصلولو بوخت و. سباعی ماشوم و چې د فرانسوي مستعمرینو په مقابل کې ودرید او په تظاهراتو کې یې برخه واخستل او احساساتې ویناوې به یې کولې او د شپې به یې د استعمار ضد پاڼې خپرولې چی په همدې علت په

کال ۱۹۳۱ کی د شپاړسو کلو په عمر د زندان تورو تیاور ته وغورځول شو، خو کله چې له زندان څخه را خوشي شو بیایې هم بس ونه ویلې اود استعمار ضد فعالیتونه یې پیل کړل چې د حمص په جامع جومات کې د یوې احساساتي وینا پر کولو او حتی تردې چې د استعمار پر ضد یې ټوپک ته هم لاس کړ او د استعمار په مقابل کې یې مسلحانه مبارزه پیل کړه چې د دویم ځل لپاره بیا زنداني شو. په کال ۱۹۳۳ کې د مصر په الازهر پوهنتون کې شامل شو، هلته په ټولګې کې دده ملګري د اخوان المسلمین د اسلامي خوځښت غړي وو، همدا وه چې ده ته یې هم له اخوان المسلمین سره د یوځای کېدو بلنه ورکړه او ده هم ومنله او څو څو ځلې یې د اخوان المسلمین موسس شهید استاد حسن البنا سره وکتل.

څرنګه چې مصر کی هم بریطانوي استعمار و هلته هم ښاغلی سباعی غلی کېنناست مګر له خپلو اخواني ملګرو سره یې یو ځای مبارزه پیل کړه، په هغه وخت کې په مصر کې هم د استعمار په مقابل کې د مصر خلکو مظاهرې کولې، سباعی صیب هم په مظاهرو کې برخه واخیسته چې دا ځل هم زندان ته د خپلو ملګرو هریو: مشهور الضامن، ابراهیم القطان، هاشم الخازاندار، فارس حمداني، علی الدویک او یوسف المشاري سره د استعمار په امر د درې میاشتو لپاره بندیان شول.

کله چې یې پلار مرحوم د علامه محمد الحامد له لوری پردې وپوهول شو چې زوی یې د استعمار په مقابل کې مبارزه کوله او نیول شوی، پلار مرحوم یې مسکی شو او ویې ویل: زما زوی په اسلام

بندې شوى څه باک لري چې بندي شي، بندي خانه خو د نرانو ځاى دى!

کله چې استاد سباعى له امام حسن البنا او نورو ملګرو سره يوځاى د اخوان المسلمين خوځښت په کال ۱۹۴۲ کې تاسيس کړ، درې کاله استاد سباعى په مصر او سوريې کې خلک اخوان المسلمين ته دعوت کړل چې په کال ۱۹۴۵ کې په سوريه کې د اخوان المسلمين د استازي په توګه و ټاکل شو. ددې لپاره چې د اخوان المسلمين د عوت لاهم په سوريه کې عام شې استاد سباعى له حمص څخه دمشق(د سوريې پلازمېنې) ته ولاړ او هلته يې د ځوانانو د روزنې او اصلاح په موخه د يوې مدرسې چې المعهد الاسلامى الشرعى نومېده بنسټ کېښود ، دې مدرسې د باتقوا او لايقو زده کوونکو په روزلو کې نوم ويوست. په کال ۱۹۴۴ کې د حج د فريضې د اداء کولو په موخه مکې مکرمى ته ولاړ او ددې لپاره چې خپل دعوت لاهم پراخ کړي په کال ۱۹۴۷ مى کې يې د المنار په نامه يوه سياسي، ديني او ټولنيزه ورځپاڼه هم تاسيس کړه چې وروسته دا ورځپاڼه د عسکري انقلاب مشر حسني له لورى مصادره شوه. استاد مصطفى سباعى د سوريې د اخوان المسلمين لپاره يو مرکزي دفتر جوړ کړ او نوم يې پرې شبان المسلمين کېښود او له دې سره سره په ټوله سوريه کې د دعوت د خپراوي لپاره وګرځيد. لکه څرنګه چې د اخوان المسلمين خوځښت ترهر چا ډېر کوښښ وکړ چې فلسطين د يهودو له لاسه وژغوري او آزاد يې کړي، دوى ددې لپاره وسلوال جهاد ته مخه کړه چې استاد مصطفى سباعى د شام د جنګي ډلو

مسولیت پر غاړه درلوده.

استاد سباعی د اسراییلي دښمن په مقابل کې په ډېره مېړانه وجنګید، پر دښمن یې مرګوني بریدونه وکړل او څو څو وارې ټپي شو او الله جل جلاله له مرګه وژغوره. څو کله چې د عربو او اسرایېلو ترمنځ جګړه پای ته ورسېده، مصري ظالم حکومت د اخوان المسلمین د بېګناهو مجاهدینو پر نیولو بوخت شو؛ استاد سباعی ډېر په قهر و، څو څه یې نشو کولی یواځې دا یې وکړل چې د سوریې هر ښار ته ولاړ او خلک یې د جګړې پر حقایقو وپوهول. کله چې ښاغلي سباعی سوریې ته راوګرځید؛ هلته یې د فساد پر ضد جګړه پیل کړه، او د خلکو تربیې ته یې مخه کړه، د اخوان المسلمین منهج چې عبارت د فرد، کورنۍ او ټولنې اصلاح ده پیل کړ، ترڅو د اسلامي دولت د رامنځ ته کولو لاره هواره شي او الهی قانون د الله جل جلاله پر ځمکه پلی شي.

په کال ۱۹۵۰ کې سباعی د سوریې په پوهنتون کې د حقوقو د استاد په توګه وټاکل شو، په کال ۱۹۵۱ کې د اسلامې هیوادونو کانفرانس ته چې په پاکستان کې دایر شوی و ولاړ او په همدی کال کې د دوهم ځل لپاره حج ته ولاړ. په کال ۱۹۵۲ کې یې د سوریې له حکومت څخه اجازه وغوښته چې د سویس د کانال په جګړه کې دوی ته هم د ګډون اجازه ورکړي ترڅو د مصري ورونو ترڅنګ د استعمار په مقابل کې وجنګېږي، څو لکه څنګه چې په هغه وخت کې هلته د دیب شیشکلي حکومت و، ښاغلی سباعی یې له خپلو مجاهدو ورونو سره زنداني کړ. وروسته یې له سوریې څخه لبنان ته

تبعيد کړ. استاد سباعی ډېر کتابونه ليکلي چې ځينې يې دادي: المستشرقون والاسلام، السنة و مکانتها فی التشريع الاسلامی، شرح قانون الاحوال الشخصية، من روائع حضارتنا، او المرآة بين الفقه و القانون او...

استاد سباعي په کال ۱۹۶۳-۱۰-۳ کې ديوې اوږدې مبارزې، دعوت اوجهاد څخه وروسته د فلج د ناروغۍ له امله چې ډېر سخت يې ودرداوه له دې فاني نړۍ سره د تل لپاره خدای پامانې وکړه. روح دې يې ښاد وي.[1]

الحکمت کتابتون اریکه 0765697124

بسم الله الرحمن الرحيم

## د مؤلف مقدمه

د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د ژوند په لوستلو پر عجیبه خوند سربېره له روحي،عقلي او تاریخي اړخه هر لوستونکي ته ګټور او خوندور دی، یو څو یې درته وایم:

۱. د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم ژوند یو بشپړ پیغمبري تاریخ دی، چې تر ټولو پر سمه لار او ډاډه توګه له لویو پېښو سره یوځای تر موږ رارسیدلی، چې شک او ګمان ته پکې ځای نشته.

۲. د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د ژوند ټولې مرحلې د عبدالله او آمنې له واده د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر وفاته په ښکاره توګه تاریخ لیکونکو ثبت کړې دی. او د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د پیدایښت، ورکتوب او ځواني د ډېرو پېښو کیسې یې راته معلومې دي، همدارنګه د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د مسافرتونو او دهغه مبارک تر بعثت وړاندې یې د سوداګری اړوند ډېر څه رازده کړي دي. له پیغمبري وروسته یې د ژوند ټول واقعات کال پر کال هغه د عربو خبره (اظهر من الشمس) دی، چې دغه ځانګړی امتیاز په ټولو ټېرو

پیغمبرانوکې چا نه درلود.

۳. د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم سیرت دیو داسې انساني ژوند نمونه ده، چې الله جل جلاله پر رسالت مکرم کړی دی او هغه یې له افسانو سره ګډ نه کړ، الله جل جلاله فرمايي:

[لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا] (احزاب ۲۱).

ژباړه: بې له شکه تاسې ته د پیغمبر (په تګلاره کې) نېکه نمونه ده، دهغوی لپاره چې خدای او د قیامت ورځې ته په تمه دي او خدای ډېر یادوي.

۴. د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم ژوند د انسان د ژوند په ټولو ټولنیزو برخو کې اغېزمن دی. ځکه چې د ده سیرت تر پیغمبري وړاندې د یو داسې محمدي ځوان سیرت دی، چې تر ټولو امین او رښتینی و، او کله چې پیغمبر شو، نو د اسلام د دعوت لپاره یې ډېرې جذابې لارې او وسیلې وکارولې.له بله اړخه یوداسې پلار او مېړه و، چې د اولادونو اوښځو حقوق یې بشپړ مراعاتول.او بیاداسې رښتینی رسول و چې د ملګرو حقوق یې ساتل. هغوی زړور جنګیالی، کامیاب قوماندان، سرلوړی سیاستمدار، رښتینی ګاونډی او ژمن سړی و.

یواځې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم اخلاق او

د ژوند تګلاره هم د هغوی د رښتینتوب زورور دلیل دی، ځکه چې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم پرمختګ یواځې دهغوی د معجزو او خارق العاده لارو ځخه نه دی، بلکې هغوی د یو انسان غوندې پر طبعي لارو له یوې کامیابي د بلې هڅه کړې، او د کافرانو ظلم او ستم یې زغملی. چې دالله جل جلاله پیغام خلکو ته ورسوي او داسې ملګري یې پیدا کړل، چې تل یې امر ته تیار وو، هغه یو حکیم آمر و.

د عربو د مسلمانېدو بنسټ معجزې نه وي، ځکه چې معجزه یواځې د کسانو لپاره دلیل دی، چې ویې ویني. او الله جل جلاله یواځې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د احترام او د دښمنانود سرکوبۍ لپاره معجزې ورته عطا کړې دي. او کنه ټول مسلمانان د وجدان او عقل پرمټ اسلام قبول کړی دی.

دکتور مصطفی السباعي

## تر پیغمبرۍ وړاندې ژوند

حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د عربو په یوه لویه کورنۍ (بني هاشم) کې زیږېدلی دی.ځکه چې بني هاشم د قریشو یو لوی ښاخ وو، او قریش هم د عربو یوه لویه او غوره طایفه وه. حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم په یتمي کې لوی شو، ځکه چې عبدالله په هغه وخت کې وفات شو، چې دی د مور په ګېډه کې دوه میاشتنی و. او په شپږکلنۍ کې یې مور بې بې آمنه هم وفات شوه، او حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم په وړکتوب کې د یتیمي ترخه وڅکل.د بې بې آمنې له وفات وروسته یې پالنه نیکه عبدالمطلب پرځان ومنله.د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم په اته کلنۍ کې یې نیکه وفات شو، او پالنه یې تره ابوطالب ومنله، قرآن کریم د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم یتیمي ته داسې اشاره کوي:

[أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ۝] (ضحی، ۶)

ژباړه: آیاته مو یتیم نه کړې پیدا،چې بیا مو سرپناه درکړه.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم لومړني څلورکلونه په بني سعد کلیواله کورنۍ کې تېر کړل، چې بدن یې روغ ژبه یې فصیحه، اس سپرلي یې زده کړه، او د کلي ساپې هوایې وړتیا لا روښانه کړه. په وړکتوب کې یې وړتیا او هوښیارتیاپه تندي کې له ورایه ښکارېده.

په وړکتوب کې به حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د نیکه په هغه ځانګړي ځای کېنوست چې بل څوک به نه پرې کېنوست.

اوتل به د عبدالمطلب د زامنو سره پرې شور و،عبدالمطلب به ورته ویل: زوی ته مې غږ مه کوئ، بې شکه هغه به ددېرلوی مقام خاوند وي!

په ځواني کې به يې د مکې د خلکو شپني کوله او مزدوري به يې ګټله،چې په پنځه ويشت کلني کې يې د خديجې رضی الله عنها دمالونو سوداګري پيل کړه.

حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم هيڅکله له خپلو همځولو سره په لهولعب کې ګډون نه دی کړی او نه خدای ورته پرې اېښی دی، وايي: يوه ورځ د مکې په يوه کور کې د واده مراسم وو، حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم د مراسمو غږ واورېد، نيت يې و چې ورشي مگر زورور خوب پرې راغی، تر دې چې د لمر وړانګو راويښ وکړ.

هيڅکله يې له خپلو قوميانو سره په بت پالنه کې ګډون نه دی کړی، نه يې هغه غوښه خوړلې، چې د بتانو پرنامه به حلالېدله،شراب يې نه دي څښلي، قمارېې نه دی کړی، هيڅکله يې بده خبره نه ده کړې او کله هم له چا مرور شوی نه دی (خبرې يې نه دي ورسره پرې اېښې).

حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم د درک او توپير عمر ته په رسېدو د مکې په خلکو کې د اهل رای او نظرخاوند پر القابو مشهور شو، چې د کعبې په جوړولو کې يې د حجرالاسود د ډبرې پريکړه د يادو القابو روښانه دليل دی.

کله چې کعبه شريفه په سېلابونو کې خرابه شوه، نو د مکې خلکو

هوډ وکړ چې کعبه له سره جوړه کړي،همداسې يې وکړل، خو کله چې د حجرالاسود د ډبرې د اېښودو وخت راغی، نو پر اېښودو يې جنجال شو، هرې ډلې غوښتل چې دغه وياړ دځان کړي، تر دې چې خبره يې تر وژونکو ګوابنونو ورسېده، وروسته يې پرېکړه سره وکړه، چې که هرڅوک د بنی شيبه له دروازې لومړی راننوت هغه به زموږ منځګړی وي او خبره به يې منو.

بې پامه د بني شيبه له دروازې حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم راننوت، ټولو وويل: محمد رښتينی دی، موږ يې پرېکړه منو.

کله چې حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم له پېښې خبر شو، نو څادر يې هوار کړ، تېږه يې پکې کېښوده او هرې ډلې څادر تر پيڅکو ونيو، تېږه يې تر دېواله يووړه او حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم په خپلو مبارکولاسونو په دېوال کې کېښوده، پر دې ترتيب يې د خونړۍ پېښې مخه ونيوه.

حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم د ځوانۍ په لومړيو کې د قريشو پر رښتيني مشهور و، او همدارنګه پر نېک اخلاق، نېک نام، نېک معامله، پروعده وفاکوونکی او د ښه رښتيني ژوند پر خاوند پېژندل کېده.ځکه خو خديجې رضی الله عنها ورسره علاقمنده شوه او د سوداګرۍ لپاره يې خپل مالونه ور وسپارل، وروسته له څه مودې يې حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم ته د واده وړانديز وکړ، که څه هم حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم تر خديجې رضی الله عنها پنځلسه کاله کشر و، بيا يې

هم وړاندیز ومانه، او واده یې وشو.

تر بعثت وړاندې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د ښېګړې ډېر لوی دلیل د حضرت خدیجې رضی الله عنها هغه خبرې دي، چې کله حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د وحې په پیل کې لړزېدلی او وېرېدلی کورته راغی او خدیجې رضی الله عنها ورته وویل:

مه ډارېږه! په خدای قسم چې تا خدای نه خواروي او نه هم رسوا کوي،ځکه چې ته زړسوی لرې، له بې وسو سره مرسته کوې، روزې ګټې، مېلمه پال یې او له خلکوسره په نېکیو کې مرسته کوې!

## له مکې د باندې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم سفرونه

حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم له مکې د باندې دوه واره سفر کړی دی، یو وار یې د شام بصرې ته په دوولس کلنۍ کې له ابوطالب سره د سوداګرۍ پر نیت سفر کړی دی،د ویم وار په پنځه ویشت کلنۍ کې د خدیجې رضی الله عنها د مالونو د خرڅولو پر نیت یادښارته تللی دی، چې په دې دواړو سفرونو کې یې د سوداګرو خبرې اورېدې او د هماغو خلکو له عادتونو هم خبرشو.

## حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د حرا په غار کې

تر بعثت څوکاله وړاندې الله جل جلاله د حضرت محمد صلی

الله وعلیه وآله وسلم په زړه کې د ګوښه توب مینه ور واچوله، هر کال به په روژه کې د الله جل جلاله د عبادت او په نعمتونو کې د تفکر پر نیت د حرا غار ته ته. ترهغو یې دې کارته دوام ورکړ، چې تر څو یې پر پاک زړه وحي نازله شوه.

## حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم بعثت

کله چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم څلوېښت کاله پوره کړل، وحي پرې نازله شوه، ام المؤمنین حضرت عایشه رضی الله عنها د وحي د نزول څرنګوالی داسې بیانوي، هغه وايي: د وحي د نزول لومړۍ مرحله رښتیني خ ؛بونه وو، حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم چې به هر خوب لیده، پایله به یې د سهار غوندې روښانه وه، وروسته له ګوښه توب سره خوشاله و، او پرلپسې څو شپې به په حرا کې خلوت و او هلته به د الله جل جلاله پر عبادت بوخت و.تردې چې جبرایل علیه السلام ورته راغی او ورته ویې ویل: ولوله!

حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم ورته وویل: زه څه شی نه شم ویلای!

جبرایل علیه السلام هغه په غېږ کې ټینګ کړ،رسول الله صلی الله علیه وسلم په تنګ شو، پرې یې ښود او ویې ویل: ولوله!

حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم بیا وویل: زه څه شی نه شم ویلای!

جبرایل علیه السلام درې واره هغه په غېږ کې ونیو او ټینګ یې کړ، دریېم وار یې ورته وویل:

[اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ۝ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝ اِقْرَاْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۝ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْ ۝]
(علق، ۱-۵)

ژباړه: ولوله! (اې محمده!)د خپل پروردګار پرنوم، چې هغه ټول مخلوق پیداکړ.د کلکې شوې وینې له یوې ټوټې یې څخه یې انسان هست کړ.ولوله! ستا پروردګار ډېر کریم دی،چې هغه د قلم پر وسیله انسان ته علم وښود.انسان ته یې هغه علم ورکړ، چې هغه پرې نه پوهېده.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم لړزېدلی او ډارشوی د خدیجې رضی الله عنها کره راغی اویې وېل:

ما پټ کړه!

هغې په یوه ټوټه کې پټ کړ، وروسته یې چې ډار لرې شو، کیسه یې وکړه او یې ویل: ډارېږم.

خدیجې رضی الله عنها وویل: مه ډارېږه!په خدای قسم چې تا خدای نه خواروي او نه هم رسوا کوي،ځکه چې ته زړسوی لرې، له بې وسو سره مرسته کوې، روزې ګټې، مېلمه پال یې او له خلکوسره په نېکیو کې مرسته کوې!

خدیجې رضی الله عنها حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم خپل د تره زوی ورقه بن نوفل ته وروست، چې دنصاری وو، لوی عالم و، خدیجې رضی الله عنها ورته وویل:

د تره زویه! وراره ته دې غوږ ونیسه چې څه درته وایي؟

هغه حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم ته وویل: ووایه څه

دې ليدلي دي؟

حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم کيسه ورته وکړه ، ورقه وويل: هغه لوی ناموس و، هغه جبرايل عليه السلام و، هغه چې موسی عليه السلام ته راغلی و، ته د خدای رسول يې، ارمان! چې زه په هغه وخت کې ژوندی يم، چې تا خپل قوم له خپلې سيمې شړي!

حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم وويل:

هغوی به ما شړي؟

ورقه وويل: هو، هيڅ داسې پيغمبر نه دی راغلی، چې له هغه سره دښمني نه وي شوې، که زه په هغه وخت کې ژوندی وم، کلکه ملگرتيا به درې وکړم.

مگر څه وخت وروسته ورقه بن نوفل وفات شو.

## لومړني مسلمانان

لومړنی انسان چې پر حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم يې ايمان راوړ، ام المؤمنين حضرت خديجه رضی الله عنها وه،وروسته لس کلن حضرت علي بن ابوطالب رضی الله عنه، بياد حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم مولا(ازادغلام) زيد بن حارثه او بيا حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ايمان راوړ. او په غلامانو کې لومړنی مؤمن حضرت بلال بن رباح حبشي رضی الله عنه و.

حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم درې کاله هوښيار او باوړمن خلک په پټه اسلام ته راوبلل، وروسته له هغه چې

مسلمانان نږدې دېرش کسه شول، الله جل جلاله حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم ته د ښکاره بلنې آمر وکړ:

[فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴿٩٤﴾] (حجر،۹۴)

ژباړه: نو (ای پیغمبره!)د کوم شي چې تاته حکم کېږي هغه پرلوړ اواز ووایه او د مشرکانو یوبځری پروا مه کوه.

په دې وختوکې مشرکینو د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم او مسلمانانو ځورولو ته زور ورکړ، حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د هغوی بتان باطل وګڼل او ټول یې د یوه نالیدونکي الله جل جلاله عبادت ته راوبلل، هغوی ډېر په وحشت کې شول. حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم په پیل کې په پټه د ارقم بن ارقم له کوره مدرسه جوړه کړه او مسلمانانو ته به یې نوي نازلېدونکي ایاتونه او د دین احکام ورښوودل. وروسته ورته الله جل جلاله امر وکړ، چې قومونه او خپل خپلوان دې زما له عذابه وډاروه، حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د صفا غونډۍ ته وخوت او ټولې ډلې یې راټولې کړې، هغوی له دوزخه وویرول او جنت ته یې وهڅول، هغوی یې له بت پالنې نه یو پالنې ته راوبلل، ابولهب وویل: تباه شې! موږ دې دهمدې لپاره راټول کړي وو؟

وروسته یې قریش د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم د ځورولو لپاره وپارول، خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره ابوطالب یې ملاتړ او دفاع وکړه، کله چې قریش له هغې سیمې لاړل، نو ابوطالب حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم ته

وویل، چې که دې بلنه لږ کمه کړې، نو دوی به دې نه ځوروي!
حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم ورته وویل:
په خدای مې دې قسم وي، که لمر په ښي او سپوږمۍ په چپ لاس کې راکړي، له خپلې لارې به وانه وړم، چې یاپه دې لاره کې بریالی یا شهید شم.

## حبشې ته د مسلمانانو هجرت

کله چې مشرکین دحضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم له یاد ځواب څخه خبر شول، نو د مسلمانانو ځورولو ته یې لا کش ورکړ، آن تر دې چې په شکنجو او ځور کې یې ځینې صحابه شهیدان یا زخمي کړل.مګر بیا هم مسلمانان په خپل باور کلک ولاړ وو، مشرکینو چې کله د دوی ټینګښت ولید، نو د سولې پر لارو یې د خبرو فکر وکړ، او حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم ته یې وویل:که هرڅومره مال او دولت غواړې، آن پاچا به دې وکړو، خو که د دې دین له تبلیغه منع شې!
مګر حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم یې خبره ونه منله او خپلې بلنې ته یې ادامه ورکړه.
په دغسې ترینګلو حالاتو کې حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم خپلو ملګرو ته وفرمایل:له مکې دباندې حبشې ته هجرت وکړئ! دهغه ځای حاکم ډېرعادل سړی دی، په خاوره کې یې پر چا ظلم نه کېږي. تر څوچې الله جل جلاله یوه لار درته پیداکوي.
په لومړي وار دولسو سړو او څلورو ښځو هجرت وکړ، کله چې په

حبشه کې د امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د اسلام راوړولو خبره مشهوره شوه، نو مهاجرین بېرته مکې ته راستانه شول، مګر ډېر وخت پکې پاتې نه شول، او دویم وار یې بیا هجرت وکړ، چې دا وار پکې درې اتیا نارینه او یوولسې ښځې وې.

## پر حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم او بني هاشمو اقتصادي بندیز

له دې وروسته مشرکینو په خپلو منځو کې ژمنه سره وکړه چې هیڅوک به له بني هاشمو او مسلمانانو سره پېر او پلور نه کوي، ودونه به ورسره نه کوي، نه به ورسره څه خوري او نه به څه څکي او له دوی سره به هیڅ ډول سوله نه کوي، دغه تړون لیک دوه ـ درې کاله اوږدشو، چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم او ملګري یې پکې له ډېرو سختتیو سره مخ شول، چې وروسته د څو هوښیارو قریشو پرمټ دغه تړون لیک لغوه شو.

## د ابوطالب او حضرت خدیجې رضی الله عنها وفات

د بعثت په لسم کال د حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم تره ابوطالب وفات شو، د هغه پر ژوند د قریشو لړ سترګه سوځیدله او حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم ته یې دومره ځور او تکلیف نه شوای رسولای. ځکه خو د ابوطالب مړینه رسول الله صلی الله وعلیه وسلم ته یوه ډېره غمجنه پېښه وه. حضرت محمد صلی الله وعلیه وآله وسلم ډېره هڅه وکړه چې په

خپل تره د شهادت کلمه ووايي، خو هغه د خپل قومي غرور پر خاطر ترې انکار کاوه.

څو روځې وروسته حضرت خديجه رضی الله عنها هم وفات شوه، هغه د رسول الله صلی الله وعليه وسلم کلکه ملاتړې وه، مشرکين د حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم پر غم ډېر خوښ شول، مګر په خپله حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم او مسلمانانو دغه کال د غم کال (عام الحزن) وباله

کله چې د رسول الله صلی الله وعليه وسلم دغه دوه خواخوږي وفات شول، نو د مشرکينو ازار او ځور نور هم زورور شو، نو حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم د مکې پرځای د طايف د بنو ثقيف قبيلې ته مخه ونيوه، چې هغوی رښتينې لارې ته راوبولې، مګر هغوی ډېر سخت ځواب ورکړ، خپل ځوانان او ماشومان يې وهڅول چې حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم په تيږو وولي، تر دې حده يې وويشت، چې پښې مبارکې يې له وينو ډکې شوې.

## د معراج پېښه

کله چې حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم له طايفه راوګرځيد، نو د (اسرا او معراج)پېښه وشوه، او په شپه کې حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم له مسجد الحرام نه مسجد الاقصی او له هغه ځايه اسمانونو ته عروج وکړ، او په همدې شپه کې بېرته مکې ته راوګرځيد. (اسرا: په شپه کې تګ).

حضرت محمد صلی الله وعليه وآله وسلم قريشو ته وويل: نن شپه

معراج ته لاړم!

هغوی رسول الله صلی الله وعلیه وسلم مسخره کړ، کله چې خبره خلیفة رسول الله صلی الله وعلیه وسلم حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ورسېده، نو هغه بې له درنګه وویل: رښتیا وایی. ځکه خو یې د رښتیني (صدیق) او د قوي ایمان څښتن لقبونه وګټل.په معراج کې پر مسلمانانو پنځه لمنځونه فرض شول.

## د قبېلو بلنه

حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم به د حج په ورځو کې له بېلابېلو قبیلوسره لیدل، یوه ورځ یې د اوس او خزرج چې د مدینې اوسېدونکي وو، له اویاوو نفروسره ولیدل، هغوی ته یې د اسلام بلنه ورکړه، او هغوی هم مسلمانان مدینې ته ولاړل. یو کال وروسته دولسو انصارو په مکه معظمه کې له حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم سره د یوې ژمنې خبرې وکړې، او هم یې ورسره بیعت وکړ.

حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم حضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه له دوی سره د ښوونکي په توګه ولېږه، چې نوموړي به هغوی ته اسلامي احکام ورښودل، چې پر مټ یې په مدینه منوره کې اسلام نور هم خپور شو. کال وروسته اویا سړي او دوه ښځې مکې معظمې ته د حج پر نیت راغلل، چې له حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم سره یې کلکه ژمنه وکړه چې دوی به ورسره مرسته کوي او هغه څه چې پر خپلو اولادونو نه

لوروي، حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم به هم ترې ساتي.

## مدينې ته هجرت

کله چې قریش په مدينه منوره کې د اسلام له ډېرخپراوي خبر شول، نو د مسلمانانو ځوروني ته یې لا زور ورکړ، ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته امر وکړ، چې مدينې منورې ته هجرت وکړي. مسلمانان به پټ - پټ د مدينې په خوا وتل، مگر کله چې امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د هجرت نیت وکړ، نو نېغ د کعبې شریفې خوا ته ورغی او ښکاره اعلان یې وکړ: که څوک غواړي چې خپله مور پر ځان بوره کړي، نو د وادي خواته دې راپسې راووځي!

هیچا یې مخ ته د ورتلو جریت ونه کړ. کله چې مشرکینو په مدينه منوره کې د مسلمانانو عزت درک کړ، نو په مکه کې یې په خپل ځای ناستې (دارلندوه) کې ناسته وکړه، سره ویې ویل: باید له هرې قبیلې یو - یو تکړه ځوان وټاکل، شي چې پر محمد برید وکړي، نو (بني مناف) به له ټولو سره د جگړې توان نه لري، هغوی به په دیت راضي شي. او دغه دیت به په ټولو سره ورکړو.

هغوی دغسې تړون سره وکړ او له هرې ډلې یو - یو تکړه ځوان رامخکې شول، هغوی د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم د هجرت په شپه د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم کور محاصره کړ، او شاوخوا یې کمینونه ونیول، مگر حضرت محمد

صلی الله وعلیه و آله وسلم په دې شپه حضرت علي کرم الله وجهه په خپل ځای کې څملاوه، او ورته ويې ویل، چې سبا بیا د خلکو امانتونه پر خلکو وویشي. په خپله د کفارو څوانانو د کمینونو په منځ کې روان شو او د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه کورته یې تشریف یووړ، خو کفارو ونه لید. حضر ابوبکر صدیق رضی الله عنه د ځان او حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم لپاره تیارې دوه سورلۍ درولې وي، نور نو د مکې تګ ته تیار وو، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو سړی اجاره ونیو، چې دوی باید مدینې منورې ته په داسې لار ورسوي چې کافران پسې ورنه شي.

هو! د نړۍ ستر انسان حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم او د نړۍ ستر رښتوني حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه مکه په داسې حال کې پرېښوده، چې پر تګ یې له کورنیو او حضرت علي کرم الله وجهه پرته بل څوک نه وو خبر!!!

دوی د خپل لارښوونکي سره د یمن له خوا مدینې ته روان شول، چې د ثور غار ته ورسېدل، نو درې شپې پکې پاتې شول. له مرګه د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم خلاصون مشرکینو ته سمه د قیامت مانالرله، نو د مکې او مدینې ترمنځ په مشهوره لار یې ګزمې شروع کړې، آن د یمن له لارې د ثورد غار خولې ته ور ورسېدل، چاویل ممکن هغوی په دې غار کې وي، چابه ویل: ولې نه یې وینې، چې غنې یې په خوله تارونه غځولي او هلته کبوترې ځاله او په هغې کې هګۍ شته، دا ټول دامانا لري، چې دلته له

ډېر مودې را په دې خوا څوک نه دي ورننوتي.
حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د کفارو پښې لېدلې، پر حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم وډارېده، ورته ویې ویل:
یارسول الله صلی الله وعلیه وسلم! که یې پښو ته وکتل موږ وینې!
حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم ډاډ ورکړ: ای ابابکره!
دهغو دوو په اړه څه وایې، چې درېیم پکې الله جل جلاله وي؟
مشرکینو په ټولو قبیلو کې اعلان وکړ، چې که څوک حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله وعنه یا ووژني یا یې هم ژوندي ونیسي، ډېره لویه جایزه (سل اوښان)به ورکړو!
هر چا یې د نیولو لپاره هڅې پیل کړې، خو سراقه بن جعشم کلک نیت وکړ، چې دغه جایزه به گټي. حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله وعنه له دریو شپو وروسته خپل تگ د سرې دریا له لارې خپل تگ بیا پیل کړ، مگر سراقه په هغوی پسې اس نږدې کړ، خو آس یې تر زنگونو پورې په ځمکه کې ننوت، درې واره دغه د ځمکې زغم تکرار شو، وروسته سراقه وعده وکړه چې زه به چاته په مکه کې ستاسې حال نه وایم، او بېرته پټه خوله مکې ته وگرځید.

## مدینې ته د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم ننوتل

لومړی وار حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم د قبا کلي ته ورسېد، هلته یې د اسلام د لومړني جومات بنسټ کېښود، وړاندې لاړ او د جمعې لمونځ یې په بنی سالم بنی عوف کې وکړ، او مدینې ته ورننږدې شو. د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم ملګري او دوستان په ورځو - ورځو د هغوی تشریف ته پر تمه وو، هره ورځ به سهار دمدینې غونډیو ته ختل، کله چې یې رسول الله صلی علیه وسلم ولید، دغه بیتونه ورته وویل:

طلـــع البـــدر علینـــا
وجـــب الشـــکر علینـــا
ایهـــا المبعـــوث فینـــا
مـــن ثنیـــات الـــوداع
مادعـــا اللـــــه داع
جیـــت بـــالامر المطـــاع

## په مدینه کې د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم لومړی کار

په هغه ځای کې چې د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم اوښې ګونډه ووهله، هغوی مبارک یوجومات پکې راپیل کړ، دغه ځمکه د دوو یتیمانو وه، رسول الله صلی الله وعلیه وسلم یې

په قيمت ورسره وغږيده، هغو هلكانو ورته وويل: موږ دربخښلي يا رسول الله صلی الله وعليه وسلم!

خو حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم يې خبره قبوله نه كړه،تر دې چې دغه ځمكه يې په لس ديناره ترې واخيسته او صحابه يې دجومات پر جوړولو امر كړل. چې په جوړولو كې يې په خپله حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم هم مرسته كوله.

د حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم دويم كار دا و، چې د ورورولۍ بې مثاله تړون يې وكړ، دغه تړون يې د انصارو او مهاجرينو تر منځ وكړ، چې هر مهاجر يې يوه انصاري ته ور ورور كړ، او هغوی پكې تر دې حده اخلاص ونښود، چې انصارو خپل ټول شته او آن كورونه له خپل مهاجر ورور سره نيم كړل.

## د حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم غزاگانې

په مدينه منوره كې لا د حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم دومره وخت نه و وتلی، چې له قريشو او د هغوی له نورو ملگرو ډلو سره يې جنگونه پېښ شول، د تاريخ ليكونكو ترمنځ هغه جنگ چې په خپله پكې حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم گډون كړی وي، غزا؛ او هغه چې رسول الله صلی الله وعليه وسلم پكې گډون نه وي كړی، د (سريه)پر نوم يادېږي.

د حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم ټولې غزاگانې شپږويشت او سريې يې اته دېرش دي، مگر په ټولو كې يې يوولس غزاگانې ډېر مشهورې دي:

## د بدر غزا

د بدر مشهوره غزا د هجرت پر دویم کال د روژې مبارکې میاشتې پر اوولسمه نېټه پېښه شوه؛ د بدر د غزا دپېښېدو علت دادی، چې حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم څو تنه صحابان د ابوسفیان(د قریشو د مشر) پرقافلې د برید لپاره ولېږل، چې باید ټول مالونه یې ترې غنیمت کړل شي.

اصلاً حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم د جګړې نیت نه درلود، مګر ابوسفیان د مکې مشرکینو ته حال ولېږه، او هغوی له زرو جنګیالیو سره چې سل اسونه او اووه سوه اوښان ورسره وو، له مسلمانانو سره د جګړې لپاره راووتل؛مګر مسلمانان ټول ځلور نیم سوه نفره وو،چې ډېری یې انصار وو، د دوی په ټول لښکر کې اووه اوښان او دوه اسان وو.

حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم له خپلو ملګرو په تېره انصارو سره د جګړې اړوند مشوره وکړه، مهاجرینو د جګړې پر پلوي خپله خوښه ځرګنده کړه، وروسته انصار هم پوی شول، چې زموږ نظر هم پوښتي، نو د انصارو مشر حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! موږ پر تا ایمان راوړی، تاسې مورښتیني ګڼلي یاست او پر دې مو شاهدي ور کړې، چې څه شی مو راوړي هغه حق دي، او په مقابل کې یې موږ له تاسې سره ژمنه کړې، چې خبرې به مو اورو او امر به مو منو، نو یارسول الله صلی الله علیه وسلم! هرچېرته چې ځئ حرکت وکړئ او موږ درسره یو؛ قسم مو دې پر هغه ذات وي، چې تاسې یې پر

حقه رالېږلي ياست، چې که په اوبو کې دغرقېدو راته ووایاست، یو به هم مخ وانه ړوو، بلکې ټول به ځانونه درسره ډوب کړو، موږ به په جګړه کې مقاومت کوو، او خپله ړښتینولي اعلامو، تمه موده، چې الله جل جلاله زموږ پر کړنو ستاسې سترګې یخې کړي، نو د الله جل جلاله په خوښه او برکت موږ روان کړه!

ټولو انصارو يې د تايد غږونه پروته کړل، حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم خوشال شو او ويې فرمايل:

نو د الله جل جلاله پر برکت حرکت وکړئ، زېرى مې دربانديږ، چې هماغه ذات موږ ته دېري يا شهادت وعده راکړې ده.

حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم حرکت وکړ، د بدر تر اوبو لاندې يې واړول، يوصحابي حباب ابن منذر رضى الله عنه ورته وفرمايل: يارسول الله صلی الله وعليه وسلم! آيا د الله جل جلاله پر آمر مو دلته واړول، او که ستاسې شخصي نظراو جنګي تکتيک دی؟

حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم وفرمايل: نه، دالله جل جلاله له اړخه وحی نه ده، بلکې شخصي نظر او جنګي تکتيک دی.

حباب ابن منذر رضى الله عنه تر دې يو مناسب ځای ورته په ګوته کړ، چې هغلته مسلمانانو اوبو په خپله استعمالولی اوله مشرکينو ساتلی شوای. حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم د ياد صحابي خبره ومنله او هماالته يې واړول، چې رسول الله صلی الله وعليه وسلم ته يې يوه خېمه جوړه کړه، او هغه مبارک صفونه برابرکړل، او د مشرکينو پر مخامخ کېدو، جګړه پيل شوه.

## د بدر د غزا پایله

دغه غزا د مسلمانانو پر بري تمامه شوه، چې پکې اویا نفره مشرکین مړه او اویا نور ژوندي ونیول شول. د مړو له دفنه وروسته حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم مدینې منورې ته تشریف یووړ او د بندیانو اړوند یې له اصحابو سره مشوره وکړه، حضرت عمر فاروق رضی الله وعنه وفرمایل: هغوی باید ټول ووژل شي.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله وعنه وفرمایل: هغوی باید د فدیې په بدل کې پرېښودل شي.

حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم د ابوبکر صدیق رضی الله وعنه مشوره قبوله کړه، او هغوی یې د فدیې په بدل کې خوشي کړل.

## د احد غزا

د احد غزا د هجرت په درېیم کال د شوال پر پنځلسمه پېښه شوه، ځکه چې مشرکین تل د بدر د غچ اخېستنې په فکر کې وو، نو یو لوی درې زره کسیز لښکر یې تیار کړ، چې اوولس نورې ورسره ښځې وې، او په دې ښځو کې د عتبه لور او د ابوسفیان مېرمن هنده هم وه، چې پلار یې د بدر په وژل شویو کې وو. ټول لښکر د احد پر لوري وخوځید.

د حضرت محمد صلی الله وعلیه و آله وسلم او ځینو اصحابو دغه مشوره وه، چې دوی باید له مدینې ور ونه وځي، که چېرته مشرکینو پر مدینه حلمه وکړه بیا به یې دفاع وکړي. مگر ځینو

نورو هغو انصارو او مهاجرينو اصحابو ـپه تېره هغو چې د بدر په غزا کې يې ګډون نه وکړی ـ ټينګار کاوه، چې بايد دښمن ته مخې ته ور ووځي او ورسره وجنګېږي.
حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم د هغو خبره ومنله او له زر کسيز لښکر سره وړاندې ور روان شول، کله چې د حرکت په وخت کې حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم د منافقينو له ريس عبدالله بن ابی سره ځينې يهودان د مسلمانانو په صفونو کې وليدل، نو ويې فرمايل: آيا هغوی مسلمانان شوي دي؟
چاورته وويل: نه.
ويې وفرمايل: دوی دې بېرته وګرځي، موږ له کفارو پر کفارو مرسته نه غواړو.
د لارې په اوږدو کې يې هم له لښکره درې سوه نفره د ابن ابی سره بېرته راوګرځېدل، چې مسلمانان يواځې اووه سوه نفره پاتې شول.
کله چې د احد دښتې ته ورسېدل، نو حضرت محمد صلی الله وعليه و آله وسلم غره ته شا او دښمن ته مخ کړه، د مسلمانانو صفونه يې برابر کړل، او يو يو قوماندان يې پرې وټاکه، وروسته يې پنځوس تنه غشي ويشتونکي، د عبدالله بن جبير رضی الله وعنه پر مشرۍ د غره په يوه کنډو کې کېنول، او ورته ويې، وفرمايل، چې له شانه بايد مسلمانان وساتئ او پر مشرکينو غشي واوروئ، تر څو چې آمر نه وي درته شوی، ښځې بايد دغه ځای خوشي نه کړئ!

جګړه پیل شوه او الله جل جلاله مسلمانان بریالي کړل، ځینې مشرکین یې ووژل او ځینې وتښتېدل، مسلمانان د هغوی د تعقیب پرځای په غنیمت ټولونې اخته شول، د کنډو مسلمانانو چې دغه حالت ولید، نو ځینو یې وویل:چې الله جل جلاله خپل پیغمبر کامیاب کړ، نو موږ دلته څه کوو، درځئ چې غنیمتونه راټول کړو!

مشر یې د رسول الله صلی الله وعلیه وسلم آمر وریاد کړ، چې باید سنګر خوشي نه کړو، خو هغوی ویل: جګړه تمامه شوه، نو دلته څه کوو؟

حضرت عبدالله رضی الله عنه، له لسو نفرو مجاهدینو سره پاتې شو، نورڅلوېښت نفره ترې د غنیمت راټولولوپه پارښکته شول. او مورچل یې خوشي کړ.خالدبن ولید، چې د مشرکانو قوماندان و، دغه کنډو تش ولید، له شایې پر مسلمانانو برید وکړ او مسلمانان یې رامحاصره کړل، داسې اوازې خپرې شوې، چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم شهید شو، ځینو مسلمانانو د دې خبرې پر اورېدو، صحنه پرېښوده او د مدینې پر خوا یې مخه ونیوه، په همدې وخت کې مشرکین حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ته ډېر نږدې ورغلل، او دتېروباران یې پرې جوړ کړو.رسول الله صلی وعلیه وسلم بې هوښه پر ځمکه ولوید،زري خولی یې ماته شوه، لاندینی شونډه او بدن مبارک یې زخمي زخمي شول.مشرکین نږدې پرې راغلل مګر بېرته حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم له خومسلمانانو سره یوځای پرمشرکینو غبرګه حمله وکړه، ابی بن

خلف مشرك قسم وخوړ، چې تر هغو به بېرته نه ګرځي، چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم یې نه وي شهید کړی.مګرد رسول الله صلی وعلیه وسلم د نېزې کلک وار، هغه د ګور مېلمه کړ، په ټولو جنګونو کې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم همدا یو کس وژلی دی.

له مسلمانانو نه په اویا نفرو شهیدانو کې یو هم د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم تره، حضرت حمزه رضی الله وعنه و،چې د ابوسفیان مېرمن هندې یې سینه مبارکه ور وڅیرله،حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم پرې ډېرزیات خپه شو. په دې غزاکې د کفارونه درویشت نفره ووژل شول.

## د بنی نضیر غزا

بنی نضیر د یهودو هغه طایفه ده، چې د مدینې منورې په څنګ کې له خزرج او مسلمانانو سره په تړون کې اوسېدله، مګر یهودو د خپل شریر طبیعت له مخې دغه تړون وشلاوه، داسې چې یوه ورځ حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم له خپلو څوملګرو سره د بني نضیر په خوا لاړ،هغه مبارك یوه دېوال ته تکیه کړې کېناست، یهودو په خپل منځ کې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم د شهادت مشوره سره وکړه.هغوی یو نفر وټاکه، چې باید پر رسول الله صلی الله وعلیه وسلم له بامه یوه غټه تېږه راواچوي، چې پرې شهید شي، مګرحضرت جبرایل علیه السلام، حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ته د دوی د دې سترخیانت خبر ورکړ.او هغه

مبارک خپ، چوپ مدينې منورې ته روان شو، ملګري يې له شاوخوا پلټنې وروسته مدينې ته پسې راغلل. حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم بنی نضیر ته د دې ستر خيانت په خاطر امر وکړ، چې بايد مدينه خوشي کړي، هغوی هم ومنله، مګر د منافقانو ريس عبدالله بن ابی پيغام ورته ولېږه، چې بايد مدينه خوشي نه کړئ، تاسې له محمد سره وجنګيږئ، زه دوه زره نفره مرسته درسره کوم!

هغوی هم په خپلو کلاګانو کې سنګرونه ونيول او حضرت محمد صلی الله وعليه وسلم ته يې حال ولېږه، چې موږ له مدينې نه وځو، څه چې کولای شئ ويې کړئ!

حضرت محمد صلی الله وعليه وسلم له خپلو ملګرو سره پر هغوی بريد وکړ، هغوی هم له خپلو کلاګانو پرې د تېرو او غشو وارونه کول، مګر د منافقانو د مرستې درک نه و، حضرت محمد صلی الله وعليه وسلم پرې محاصره تنګه کړه، خو هغوی هم پرېښودونکي نه وو، وروسته حضرت محمد صلی الله وعليه وسلم آمر وکړ، چې ونې يې ووهئ!

هغوی چې کله خپلې شنې ونې چترېدونکې وليدې، نو ناري يې کړې: موږ د مدينې پرېښودو ته تيار يو.

حضرت محمد صلی الله وعليه وسلم ورته وفرمايل: په دې شرط مو پرېږدو، چې له ځان سره به سلاح نه وړئ، او له خپلې شتمنۍ نه هومره يوسئ، چې څومره اوښ وړلای شي، او ستاسې وينې محفوظې دي.څاڅکی به هم توی نه شي.

یهودو دخپل شوم طبیعت له مخې آن کورونه وران کړل او دروازې یې لاهم ورسره یووړلې، چې د مسلمانانو پرښه ورنه شي.ځینې خیبر او ځینې په شام کې د جرش طایفې ته ورغلل.

## د احزاب غزا

د دې غزابل نوم خندق دی، چې د هجرت په پنځم کال د شوال په میاشت کې پېښه شوه،کله چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم بني نضیر له مدینې منورې وشړل، نو ځینې مشران یې قریشوته ورغلل او هغوی له حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم سره جګړې ته وهڅول، ځینې نور بیاغطفان،بنی خزاره، بنی مره او اشجع ته ورغلل، چې هغوی یې هم له حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم سره جګړې ته تیارکړل.

له یادو ټولو او ځینو نورو قومونو جنګیالي د مدینې په لور روان شول. کله چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم د دوی له نیته خبرشو، نوله خپلو ملګرو سره یې د مدینې نه د دفاع اړوند مشوره وکړه، حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه ورته وویل، چې باید د مدینې شاوخوا یوه ژوه کنده وکینو. حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم دغه مشوره ومنله او دکندې پر کیندلو یې امر وکړ، کله چې د کفارو لښکر کندې ته راورسېدل، حیران دریان ودرېدل، ځکه دغه کنده کېندنه په عربو کې په خوا رواج نه وه.

په دې غزا کې مسلمانان درې زره او کافران لس زره و،کله چې له کندې څوتنه اس سپاره کافران راتېرشول، نو جګړه پیل شوه، دغه

کفار سمدستې ووژل شول،څو ورځې وروسته د نعیم بن مسعود پر نوم یو تن د مسلمانانو منځ ته راغی او ویې ویل، چې دی مسلمان شوی، خو قوم یې پرې خبر نه دی،هغه مسلمانانو ته وویل:زه د بني قریضه دوست یم، هغوی پرما باور لري، نو یارسول الله صلی الله وعلیه وسلم! ماته امر وکړه!

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ورته وفرمایل: ته یو نفر یې! نو له موږ ګوښه شه، او له موږ سره په تګې مرسته وکړه، ځکه چې (الحرب الخدعه) جګړه چل دی.

حضرت نعیم بن مسعود رضی الله عنه پر ډېر سیاست د قریشو او دهغوی د ترونیانو ترمنځ بېلتو راوست. او الله جل جلاله هم پر دښمنانو په سره شپه کې تېز باد مقرر کړ، دېګونه یې ورچپه کړل او خیمې یې باد باد شوې، په زړونو کې یې وېره ورلوېده، ټول وتښتېدل. سهار مسلمانانو یو دښمن هم ونه لید.

## د بنی قریظه غزا

دبنی قریظه غزا د خندق له غزا وروسته د هجرت په پنځم کال پېښه شوه،کله چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ته د یهودو شیطانت او خیانت ثابت شو چې په جګړه کې یې خپل ترون وشلاوه، نو که چېرته د خندق غزا دغسې په الهي قهر نه وای تمامه شوې، نو د همدې بنی قریظه و له لاسه به مسلمانانو سخت تاوانونه لیدلي وو، ځکه خو حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم دوی ته د ترون د ماتولو او له دښمن سره د یوځای کېدلو د

جرم په بدله کې د سزا ورکولو هوډ وکړ. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته امر وکړ، چې د مازیگر لمونځ به نه کوو، مگر په بني قریظه کې!

ټول مسلمانان سره راټول شول، حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم د دري زره کسیز اسلامي لښکر بیرغ حضرت علی کرم الله وجهه ته ورکړ او له شپږدېرش اوښانو سره یې حمله پرې وکړه، هغوی یې پنځه ورځې محاصره کړل، وروسته بني قریظه تنگ شول،نو حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ته یې وویل: یوځوک زموږ او تاسې ترمنځ فیصله کوونکی وټاکه!

دا چې بني قریظه له اوس سره تړون درلود، نو حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم د همدې قبیلې سترمشر حضرت سعد بن معاذ رضی الله وعنه ته د دوی په خوښه واک ورکړ،نو دهغه مبارک فیصله یې ومنله، په دې توگه حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم په ټوله مدینه منوره کې د یهودو له شره خلاص شو.

## د حدیبیې غزا

دغه غزا د هجرت په شپږم کال د ذی القعدې په میاشت کې پېښه شوه، څکه چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم خوب ولید، چې څینو مسلمانانو سرونه خرییلي او څینو ویښتان لنډ کړي وي او په پوره ډاډ ترکعبې طوافونه کوي. وروسته له دې خوبه حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم خلکو ته حج ته دتلو امر وکړ.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم په دې سفر کې له قریشو

سره بېخي دجګړې نیت نه درلود، مهاجرین او انصار له شپږ کاله صبر وروسته د کعبې لیدو ته سخت لېوال و او په پوره مینه یې حرکت وکړ. ټولو پنځلس سوه نفر وو، د (ذی الحلیفه) په سیمه کې یې احرامونه وتړل، چې ټول خلک په تېره قریشو ته مالومه شي، چې مسلمانان د جنګ پر نیت نه،بلکې عمرې ته راغلي دي. یواځې دهغه وخت د سفر سلاح ورسره وه ( دهغه وخت د سفرسلاح یعني توره په پوښ کې).

کله چې مسلمانان د (عسفان) پرنامه یوځای ته ورسېدل، نو یو چا خبر ورته راوړ،چې قریش له جنګي ساما الاتو سره تیار، جنګي جامې یې اغوستې او قسم یې کړی، چې مسلمانان به مکې معظمې ته نه پرېږدي، حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم وفرمایل: افسوس پرقریشو، هغوی جنګ خوړلي!

کله چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم مکې معظمې ته نږدې د (حدیبیه) پرنامه یوځای ته ورسید، نو د خزعه قبیلې ځینې غړي یې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم او د هغه دملګرو د راتګ د علت د معلومولو لپاره راغلل، نو حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ورته وفرمایل:موږ د الله جل جلاله د کور دزیارت کولو او عمرې پرته بل څه ته نه یو راغلي.

هغوی قریشو ته ورغلل او ورته ویې ویل: تاسې د محمد او دهغه دملګرو اړوند تلوار کړی، هغوی د دې خونې زیارت ته راغلي، جنګ ته نه دي راغلي.

قریشو ورته وویل: نه په خدای قسم که مکې ته رانه داخل شي،

عرب به څه وايي؟

وروسته قريشو د حال معلومولو لپاره عروه بن مسعود ثقفي ور ولېږه، کله چې هغه د حضرت محمد صلی الله وعليه وسلم پر وړاندې، د اصحابو مينه، خلوص او قدرداني وليده او له ځينو اصحابانو سره يې خبرې وکړې، نو قريشو ته يې د دوی ډېره ستاينه وکړه او هغوی ته يې مشوره ورکړه، چې بايد له حضرت محمد صلی الله وعليه وسلم او اصحابانو سره يې سوله وکړي؛مګر هغوی ونه منله.

وروسته حضرت محمد صلی الله وعليه وسلم حضرت عثمان بن عفان رضي الله وعنه، قريشو ته ورولېږه، چې دمسلمانانو د راتګ څرنګوالی ورته بيان کړي. کله چې حضرت عثمان رضی الله وعنه ولاړ، نو ډېر ناوخته شو، د مسلمانانو په منځ کې اوازه ګډه شوه، چې حضرت عثمان رضي الله عنه يې شهيد کړی دی. حضرت محمد صلی الله وعليه وسلم سخت خپه شو، ويې فرمايل: ترهغو به بېرته نه ځو، ترڅو چې له دې قوم سره ونه جنګېږو. نو حضرت محمد صلی الله وعليه وسلم د يوې ونې سيوري ته کېناست او مسلمانان يې دې ته راوبلل، چې له کفاروسره پر جنګ کولو وعده وکړي او تېښتي به نه.

کله چې قريش له دې بيعت او تړون نه خبر شول، ځمکه پرې سره شوه او سولې ته يې غاړه کېښوده او سهيل بن عمرو يې د سولې د مادو ليکلو لپاره ورته راولېږه، چې د دواړوخواوو پر توافق لاندې مادې وليکل شوې:

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم او ملګري به یې سږ کال مکې ته نه داخلېږي، کال ته به له سفري سلاح سره د دریو ورځو لپاره راځي.
دواړه خواوې به لس کاله جګړه نه سره کوي.
که له مسلمانانو نه څوک د مکې قریشو ته راغی، مسلمانانو ته به بېرته نه سپارل کېږي.
که څوک له مکې نه مسلمانانو ته ورشي، نو بېرته به یې قریشو ته سپاري.
او...
ځینو مسلمانانو ته د دې تړون لیک منل ډېر سخت و، ځینو خو آن له حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم سره بحثونه پیل کړل، چې تر ټولو ډېر وارخطا پکې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه و، حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ورته وفرمایل:زه د الله جل جلاله بنده یم او باوري یم، چې هغه به مې نه ضایع کوي.
وروسته له هغه حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ملګرو ته امر وکړ، چې احرام خلاص کړي، مګر خلک په دې تړون سخت خپه وو، هیچا هم احرام خلاص نه کړ، وروسته حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم په خپله احرام خلاص کړ او نورو یې پیروي وکړه.
که څه هم پر دې سوله ډېر خلک خپه وو، خو ارزښت یې وروسته معلوم شو. حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم د خپل حکمت، راتلونکې ته په کتنو او د الهي وحي پرملاتړ دغه سوله وکړه، د حدیبیې سولې تر ټوله خوندوره مېوه د مکې فتحه وه.

## د خیبر غزا

کله چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم د قریشو له اړخه بې غمه شو، نو نیت یې وکړ، چې مدینه منوره خو د یهودو له شره خلاصه شوه نو شاوخوا یې هم باید پاکه شي؛ نو خیبر هغه سیمه وه، چې یهودانو پکې کلکې کلاگانې جوړې کړې وې او لس زره مسلح پوځ یې تیار درلود، تل دغه امکان و، چې پر مدینه منوره برید وکړي، نوله منځه وړل یې مهم و.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم له یو زر شپږ سوه جنگیالیو سره د اووم هجري کال د محرم په وروستیو کې د خیبر په لوري وخوځید. کله چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم د یهودو د کلک سنگر (حسن النطاف)کلا ته نږدې ودرید، نو حباب بن منذر وفرمایل: یارسول الله صلی الله وعلیه وسلم!زه دلته بلد یم، دلته چې موږ ودرېدو سم ځای نه دی ځکه چې هغوی پرموږ له پاسه دي، ممکن په شپه کې د ونو له شا پرموږ حمله وکړي.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم هې مشوره ومنله او ځای یې بدل کړ. جگړه پیل شوه او د یهودو کلاوې یو پر بل پسې فتحه کېدلې، وروستۍ دوه کلاوې بې له جنگه په سوله له خیبره وتلو ته تیارې شوې، حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم یې هم خبره ومنله او هغوی په ارامۍ له خیبره ووتل، په دې غزا کې درې نوي (۹۳) کفار مړه شول او پنځلس نفره مسلمانان دشهادت لوړ مقام ته ورسېدل.

## د مؤته غزا

دغه غزا د اتم هجري کال د جمادی الاول په میاشت کې پېښه شوه، مؤته د شام یو کلی دی، چې اوس (الکرک) نومېږي.دغه جګړه ځکه پېښه شوه، چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم په بصره کې د هرقل استازي ته د حضرت حارث بن عمر په لاس لیک ولېږه،کله چې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم استازی مؤته ته ورسید، نو یوه عرب پاچا چې د هرقل تابع و، ترې وپوښتل: چېرته ځې؟ ایاد محمد استازی یې؟

ورته ویې ویل: هو د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم استازی یم.

ویې تاړه او سریې ترې غوڅ کړ.کله چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ته د خپل استازي د شهادت خبر ورسید، سخت خپه شو، ځکه تراوسه پورې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم یو استازی هم نه و شهید شوی. سمدستې یې درې زره کسیز لښکر د زید بن حارثه رضی الله عنه ترمشرۍ لاندې ور ولېږه او امر یې ورته وکړ، چې که زید شهید شو، نو جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه دې قوماندان شي او که هغه هم شهید شو نو عبدالله بن رواحه رضی الله عنه دې قوماندان شي.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم زید بن حارثه رضی الله عنه ته وفرمایل: کله چې د حارث بن عمر رضی الله عنه د شهادت ځای ته ورسېدې نو د هغه ځای خلک اسلام ته راوبوله، که یې قبول کړ، جوړه خبره ده او کنه د الله جل جلاله پرمرسته ورسره

وجنګېږئ!

د الله جل جلاله پر مرسته او برکت لښکر حرکت وکړ، او په خپله حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم دوی تر یو ځایه بدرګه کړل، کله چې لښکر د(معان) پر نامه یو ځای ته ورسېد، نو په ټول لښکر کې اوازه شوه چې هرقل د دوی مخې ته پرېمانه لښکر راوستی دی، مسلمانانو په خپلو کې مشوره ښه وبلله، ځینو ویل چې باید له حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم نه یانوره مرسته یاهم نوی فرمان وغواړو؛مګر حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه مسلمانانو ته وویل: په الله جل جلاله قسم، له څه شي نه چې تاسې وېرېږئ زه ورته تیاریم. موږ شهادت غوړو، موږ د کسانو په شمار نه بلکې په دیني سلاح جنګ کوو، په هغه دیني سلاح چې الله جل جلاله پرې موږ عزتمند کړي یو،موږ ترټولو دوه ښې خواوې لرو، یا کامیابي یاشهادت!

ټول لښکر د ابن رواحه خبره ومنله او جنګ یې پیل کړ،زید بن حارثه رضی الله عنه چې د اسلام بیرغچي و، تر هغې وجنګید، چې شهید شو. وروسته جعفر ابن ابی طالب رضی الله عنه بیرغ واخیست، هغه پر اس سپور جنګېده وروسته له اسه ښکته شو، په جګړه کې وړاندې روان و، چې ښی لاس یې غوڅ شو، بیرغ یې په کیڼ لاس کې پورته ونیو، کیڼ لاس یې هم غوڅ شو، بیرغ یې په غېږ کې ونیو،تر دې چې د شهادت سپیځلي مقام ته ورسید او په بدن کې یې تراویاوو ډېر زخمونه وو.

د حضر ت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه تر شهادت وروسته د

ټولو مجاهدینو په خوښه حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه د لښکر مشر وټاکل شو، او دغه د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه په اسلام کې لومړنی جنګ و او په ډېر لوړ تاکتیک یې لښکر مدینې ته سلامت عقب نشین کړ.

د موته غزالومړنۍ غزا وه، چې له عربي جزیرې د باندې وشوه، که څه هم په دې جګړه کې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم په خپله ګډون نه و کړی؛مګر دا چې د مسلمانانو شمېر پکې ډېر و، ځکه خو یې غزا بولې، په سریو کې به عموما د مجاهدینو شمېر ډېر کم و، په همدې غزا کې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم حضرت خالدبن ولیدرضی الله عنه ته د سیف الله (د الله توره) لقب ورکړ.

## د مکې فتحه

دغه غزا د اتم هجري کال د روژې په میاشت کې وشوه، ځکه چې د حدیبې په سوله کې دا راغلي و، چې که هره قبیله وغواړي له مشرکینو یا هم مسلمانانو سره تړونونه کولای شي، ځکه خو نو بنوبکر د قریشو او بنوخزاعه د مسلمانانو ملاتړي شول، او په همدې اتم هجري کال بنو بکر د قریشو پر ملاتړ پر بنو خزاعه برید وکړ او نږدې شل نفره یې تږې مړه کړل، کله چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم له دې پېښې نه خبر شو، نو سمدستې یې لښکر تیار کړ؛مګر د لښکرکشۍ لوری یې ښکاره چاته ونه ونه وایه. خو په همدې وخت کې حضرت حاطب بن ابی بلتعه بدری رضی الله عنه په

پټه قریشو ته دمسلمانانو د لښکر د ورتګ خبر د لیک پر واسطه ولېږه. مګر الله جل جلاله پرې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم خبر کړ، او سمدلاسه یې په هغه ښځه پسې چې دغه لیک یې مکې معظمې ته وړو ځونفره ولېږل او له هغې نه یې لیک واخیست سمدستې یې حاطب رضی الله عنه راوغوښت او ورته ویې وفرمایل: ولې دې دغه لیک قریشو ته لیکلی دی؟

حضرت حاطب رضی الله عنه ورته وویل: یارسول الله صلی الله علیه وسلم په الله جل جلاله قسم، چې زه مسلمان یم پر الله جل جلاله او دهغه پر رسول صلی الله علیه وسلم ایمان لرم او خپل دین مې نه دی پرې ایښی.

حضرت عمر رضی الله عنه وویل: یارسول الله صلی الله وعلیه وسلم! امر وکړئ، چې سر یې تر پرې کړم،سړی منافق شوی دی!

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته وفرمایل: هغه دبدر په غزا کې ګډون کړی و تاسې نه پوهېږئ، الله جل جلاله د بدریانو پر زړه خبر دی، چې ویلي یې دي: هرڅه چې کوئ ویې کړئ تاسې مې بخښلي یاست!

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم له لس زره کسیز لښکر سره حرکت وکړ، په لاره کې ځینې نوې ډلګۍ هم ورسره یوځای شوې کله چې مکې معظمې ته ننوتل، نو په همدې فتحه کې ابوسفیان هم مسلمان شو، نو د ده د خوشحالۍ لپاره حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم داسې امر وکړ: څوک چې په خپل کور کې پاتې شي او دروازه پسې کلکه کړي هغه په امن کې دی، څوک چې

جومات ته پناه یوسي په امن کې دی اوڅوک چې د ابوسفیان په کورکې پناه واخلي هغه هم په امن کې دی! مګر په دې ښځنه کې هغه پنځلس نفره چې لوی رزالتونه یې کړي وو، نه وو شامل.

وروسته حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ترکعبې شریفې طواف وکړ او دهغې شاوخوا یې له بتانو پاکه کړه، بیا د ننه ورننوت او دوه رکعته لمونځ یې وکړ، بیا د کعبې شریفې په دروازه کې ودرید، ټول قریش د خپل ځان اړوند دهغه مبارک صلی الله علیه وسلم پریکړې ته په تمه وو، حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم وفرمایل: اې د قریشو ډلګی! تاسې څه فکر کوئ چې زه به څه درسره وکړم؟

ټولو وویل: موږ له تانه د نېکۍ تمه لرو، ته زموږ ښښونکی ورور او وراره یې!

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم وفرمایل: زه نن تاسې ته هغه څه وایم چې حضرت یوسف علیه السلام خپلو ورونو ته ویلي وو:

قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ۖ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٩٢﴾
(یوسف،۹۲ایه)

ژباړه:ویې ویل:نن پرتاسې ملامتیا او ګرمتیا نشته، الله جل جلاله تاسې وبښلئ هغه ترمهربانو ډېر مهربان دی.

نو ورځئ تاسې ټول ازاد یاست!

وروسته له دې ټولو اهل مکه د صفا غره ترڅنګ له حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم سره پر دې بعیت وکړ، چې د الله جل جلاله وحدانیت او د هغه د استازي خبره به مني.

Scanned with CamScanner

## د حنین غزا

دغه غزا هم د اتم هجري کال د شوال په لسمه پېښه شوه،سبب یې داو چې هوازن او ثقیف مشران وډارېدل، چې ممکن حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم د مکې له فتحې وروسته نو پر دوی برید وکړي. ځکه خو یې وغوښتل چې تر مسلمانانو وړاندې پرې دوی برید وکړي، نو یې له دوو کلاګانو نه شل دېرش زره لښکر راټول کړ او مشر یې مالک بن عوف ورته وټاکه، هغه امر وکړ چې لښکریان باید زاړه، واړه، څاروي او ټول شته له ځانو سره راواخلي.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم هم انصار، زاړه او نوي ټول مسلمانان ددې جګړې پرلور روان کړل. کله چې مسلمانان د حنین درې ته ورسېدل نو د کفارو له خوا محاصره شول، مسلمانانو کلک مقاومت وکړ او کفار یې مات کړل. مسلمانان د غنیمتونو پر راټولولو لګیاشول، چې د کفارو ترغشو لاندې راغلل، ځینې نوي مسلمانان وتښتېدل. حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ناره وکړه: زه پیغمبر یم، دروغ نه وایم زه د عبدالمطلب له پښته یم.

د مسلمانانو ترمنځ اوازه ګډه شوه چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم شهید شوی دی، ځینې مسلمانان بېخې مایوس شول او سلاح ګانې یې وغورځولې. مګر د حضرت عباس رضی الله عنه زورور غږ سره راټول کړل،چې ویل یې: حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ژوند دی!

له دې غږ سره مسلمانان بېرته راوګرځېدل او پر کفارو یې مرګونې ګوزارونه وکړل او ماته یې ورکړه.

## د تبوک غزا

دغه غزا د هجرت په نهم کال د رجب په میاشت کې پېښه شوه، بل نوم یط (عسره) دی. د دې غزا سبب دا و چې رومیانو په شام کې د لښکرو پراټولولو لګیاوو، ځکه چې دوی ته د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم د پرلپسې فتوحاتو له امله وېره پیداشوې وه.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم سمدستې مسلمانانو ته د جګړې امر وکړ، په دې وخت کې جګړه ډېره سخته وه ځکه چې ډېره سخته ګرمي وه. مګر بیا هم ټولو صادقو مسلمانانو پکې ګډون وکړ، خو درې نفره له دې جګړې پاتې شول.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم له بډایو خلکو نه وغوښل چې (جیش العسره) تر خپلې وسې تمویل کړي، حضرت اوبوبکر صدیق رضی الله عنه ورته خپله ټوله شتمني راوړه، حضرت عمر فاورق رضی الله عنه ورته پوره نیمایي شتمنې راوړله؛مګر حضرت عثمان رضی الله عنه د ټول لښکر درېیمه برخه تمویل کړه، حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ورته دعا وکړه او ویې فرمایل: له دې وروسته به عثمان رضی الله عنه هیڅ تاوان ونهویني.

ځینې بې وسه اصحابان د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم خواته راغلل او ویې ویل: موږ د سپرلۍ لپاره څه شی نه لرو. حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ورته وفرمایل: له ماسره هم څه نشته چې در یې کړم. هغوی نمجنې سترګې ترې رخصت شول. په دې غزا کې څو اتیا منافقانو ګډون ونه کړ، حضرت محمد

صلی الله وعلیه وسلم ته يې د دروغو پلمه وکړه، او هغوی ترې ښکاره پلمه ومنله.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم له ډېرش زره لښکر سره د تبوک په لوري وخوځيد،دا د عربو په تاريخ کې تر ټولو لوی جنګ و، حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم شل ورځې په تبوک کې تېرې کړې؛مګر جنګ ونه شو، دغه د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم وروستۍ غزا وه.

## د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفات

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم له وفاته وړاندې حج ته لاړ، چې په ټول ژوند کې يې دغه يو حج کړی دی، دې حج ته (حجة الوداع) وايي. کله چې په مسلمانانو کې اوازه ګډه شوه چې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم غواړي حج ته لاړشي، نو له بېلابېلو سيمو نه د خلکو کتارونه راجوړ شول، په دې حج کې حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم تاريخي خطبه وويله چې پکې راغلي دي: ای خلکو! ماته غوږ ونيسئ، ممکن له دې کاله پرته بيا دلته سره ونه وينو. ای خلکو! ستاسې وينې او مالونه يو پربل داسې حرام دي، لکه نن په دې ښار کې، تر هغې چې د الله جل جلاله در ته ورځئ. نو هلته به ستاسې له کړنو نه پوښتنه وشي.

حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ته په وحي د خپل ژوند وروستۍ شېبې معلومې شوې وې، ځکه خو يې په حجة الوداع کې له خلکو سره خدای پاماني وکړه. کله چې د حضرت محمد

صلی الله وعلیه وسلم د وفات خبره په مسلمانانو کې خپره شوه، نو د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ملګري سخت خپه شول، د چاړبې وتړل شوې، خپ - چوپ او حیران پرېشان وو، ځیني یې بېهوښه شول او د تګ وس یې په ځان کې نه درلود. حضرت عمر فاروق رضی الله عنه توره وایسته اوهیڅوک یې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم د وفات خبرې ته نه پرېښوودل؛مګر حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه استقامت وکړ، کله چې یې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم مبارک جسد ولید، نو خلکوته راغی او ورته ویې ویل: ای خلکو!څوک چې د حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم پرستش کوي، نو هغه وفات شو او څوک چې د الله جل جلاله پرستش کوي، نو هغه نه مري. او وروسته یې دغه آیت شریف تلاوت کړ:

وَ مَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ اَفَاۡىِٕنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰۤى اَعْقَابِكُمْ ؕ وَ مَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ وَ سَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ (آل عمران، ۱۴۴)

ژباړه:محمد له پیغمبرپرته (بل څوک)نه دی او ترې وړاندې هم پیغمبران وو او تللي دي.ایا که هغه وفات یا ووژل شي تاسې بېرته په شاګرځئ، هرڅوک چې په شا وګرځي الله جل جلاله ته وړوکی تاوان هم نه رسېږي او الله جل جلاله شکر ویستونکو ته بدلې ورکوي.

# دويمه برخه

# څلور ستوري

## حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه

ژوند یې په څو کرښو کې:

- حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه تر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دوه کاله او څومیاشتې کشر دی.
- حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه په نارینه خلکو کې لومړنی مسلمانا دی.
- حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د هجرت او ثور غار ملګری و.
- د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه لور حضرت عایشه رضی الله عنها د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مېرمن او ام المؤمنین(د مسلمانانو مور) شوه.
- حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لومړنی خلیفه یاځای ناستی دی.
- حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه په لسم هجري کال خلیفه شو او دوه کاله او درې میاشت یې خلافت وکړ.
- حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه لکه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پوره په درې شپیته کلنۍ کې وفات شو.
- حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د ام المؤمنین حضرت عایشې رضی الله عنها په حجره کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په څنګ کې خښ شو.
- د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه تر ټولو غوره تاریخي

Scanned with CamScanner

ښېګړه د قرآن شریف راټولول و، چې وړاندې تر هغه پر لرګیو او پوستوکو جلاجلا لیکل شوي وو.

- حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه شپږ اولادونه لرل: درې زامن: عبدالله، عبدالرحمن، محمد او درې لورګانې: اسما، عایشه (ام المؤمنین) او ام کلثوم.

## د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه نوم او نسب

د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه نوم عبدالله، کنیه یې ابوبکر او لقبونه یې صدیق او عتیق دي، د پلارنوم یې عثمان چې کنیه یې ابی قحافه و. صدیق ورته ځکه وایي چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هره خبره یې بې ځنډه تصدیقوله.

## تر اسلام وړاندې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه (رض) ځینې ځانګړنې

حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د جاهلیت په زمانه کې له نېکې کورنۍ څخه و، ښه او بد یې ډېرښه پېژندل. هغه یو کامیاب سوداګر و او له خپلو خلکو سره یې ښه رویه کوله. په ټول ژوند کې یې شراب نه دي څښلي او نه یې هم بت ته سجده کړې ده. سپین به یې ویل او ډنګر صورت هډوکیز بدن یې و.

## د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه اسلام

کله چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر پیغمبرۍ مبعوث شو، نو کله چې یې لومړی وار لومړی سړی حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه اسلام ته دعوت کړ او هغه یې بې له ځنډه دعوت ومانه. له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره یې هره ستونزه پل پر پل وزغمله آن هجرت یې ورسره وکړ او دغار د ستړي سفر ملګری یې شو.

حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه خپله ډېره شتمني د الله جل جلاله په لاره کې مصرف کړه،هغه له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نږدې ملګری و.

## د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت

کله چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلیفه شو؛نو مسلمانان له بېلابېلو اړخونو سخت په اندېښنو کې وو.ځکه چې له یوې خوا په همدې وختو کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د رحلت دردناکه غم، له بلې خوا د مدینې په دروازه کې د حضرت اسامه رضی الله عنه لښکر چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د رومیانو په وړاندې تیار کړی و اماده ولاړ وو، چې باید امر کړی شوی وای،(په بېلابېلو سیمو کې د ارتدادغږونه.ژ). حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته په همداسې حساسو شېبو کې واک ورکړل شو.مګرپه ټول بشري تاریخ کې یې بې مثاله اداره او کنترول وکړ. د مرتدینو په وړاندې یې د جګړې امر وکړ او

همدارنګه يې حضرت اسامه رضی الله عنه ته هم د حرکت امر وکړ.

حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د خلافت په پيل کې خطبه وړاندې کړه، چې پکې راغلي وو: زه ستاسې خليفه وټاکل شوم، خو ترتاسې ښه نه يم، نو که مې ښه فعاليت کاوه، راسره ملګري شئ او که مې په بله پام شو ماسمې لارې ته برابر کړئ.رېښتنولې امانت او دروغ خيانت دي، او هغه چې په تاسې کې زورور دی ماته ترې هغې کمزوری دی چې بل ته ترې دهغه حق واخلم.

هو!حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه په خپل کلک باور کې ډېر رښتينی و، هغه خپل ځان او شته تر همدې باور قربان کړل، په سختيو کې ډېر هوښيار او وړاندې فکر کوونکی و. ډېر سپېڅلی، او دخلکو په وړاندې ډېر مهربان و، هيڅکله يې د خلکو په وړاندې له تشدده کار نه اخيست. هغه مبارک په داسې وخت کې وفات شو، چې هيڅ جامې او شته ترې پاتې نه شول، او د وفات په وخت کې يې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت وصيت وکړ.

## حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه

د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ژوند په څو کرښو کې:

- امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه تر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لس کاله کشر و.
- امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خسر و. د ام المؤمنین حضرت حفصه رضی الله عنها پلار و.
- امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په پنځه پنځوس کلنۍ کې د مسلمانانو خلیفه شو، او دوه نیم کاله یې خلافت وکړ.
- امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په خپل وخت کې شم، عراق، فارس، مصر، برقه، لوېدیځ طرابلس، آذربایجان، نهاوند او ګرګان فتح کړل، او د بصرې او کوفې د ښارونو تېږې یې کېښودې.
- امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه لومړنی کس دی، چې هجري شمسي سنه یې رواج کړه او همدارنګه یې لومړی وار د تراویحو د جمعې امر وکړ.
- امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د ام المؤمنین حضرت عایشې رضی الله عنها په حجره کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ترڅنګ خښ دی.

- امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه شپږ لوڼې او شپږ زامن لرل.

## د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه نوم او نسب

دامیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه نوم عمر، د پلارنوم یې خطاب بن نفیل بن عبدالعزی دی. له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره په کعب بن لویی کې ګډېږي.کنیه یې ابوحفص ده، چې د زمري مانالري. او په بدرغزا کې ورته حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم همدا نوم ورکړ او همدارنګه یې د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د ایمان په وخت کې د فاروق لقب ورکړ. امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه اسلام عزتمن او حق یې له باطله بېل کړ.

## د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ځانګړنې

امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په یوه مشهوره، مقتدره او لوړه کورنۍ کې زېږېدلی دی.د دوی کورنۍ د جاهلیت په وخت کې د قریشو او نورو ډلو ترمنځ د سولې او درېیمګړې حیثیت درلود، کله به چې ځینو ډلو پرقریشو غته ویله نو ځواب به یې د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه دوی کورنۍ ورکاوه.

امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه لوړه ونه، غنمرنګي

قواره، ښايسته صورت او زورور لاسونه لرل، د ککرۍ ويښتان يې نه و او لوړ غږ يې و.

## اميرالمؤمنين حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د جاهليت په وخت کې

اميرالمؤمنين حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د جاهليت په وخت کې يو تېز فکره، لوستوال شخص و، بتانو ته به يې سجدې کولې او شراب يې هم څښل، د مسلمانانو په ازارولو کې ډېر متشدد و.

## د اميرالمؤمنين حضرت عمرفاروق رضی الله عنه مسلمانېدل

اميرالمؤمنين حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د بعثت په شپږم کال په شپږ دېرش کلنۍ کې مسلمان شو،په اسلام کې هم بيا پرکفارو ډېر تند و.

هو! د همدې سترې هستۍ اړوند حضرت محمد صلی الله عليه وسلم دعا کړې وه، چې:يا الله جل جلاله!اسلام ته په يو له عمرينو(ابی جهل ابن هشام او عمر بن خطاب)زور ورکړه!

## له حضرت محمد صلی الله عليه وسلم سره د اميرالمؤمنين حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ياري

اميرالمؤمنين حضرت عمرفاروق رضی الله عنه له حضرت محمد صلی الله عليه وسلم سره په ملګرتياکې يو توکلي سړی و، د الله جل جلاله او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم پوره تابع و، د

حق په منډو تړو کې ډېر پیاوړی او پردښمنانو ډېرتند و.
امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه له حضرت محمدصلی الله علیه وسلم سره په هره غزاکې و، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه فرمایي: الله جل جلاله د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه خوله او زړه حق ته جوړ کړي دي، د همده په واسطه یې حق اوباطل سره بېل کړل.
امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ډېر وړاندې فکر کوونکی او هوښیار سړی و، درې واره الله جل جلاله د همده د رایې مطابق ایاتونه نازل کړي دي.د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په رحلت ډېر خپه شو،ویل یې رسول الله صلی الله علیه وسلمَ وفات شوی نه دی، تللی له الله جل جلاله سره مناجات کوي. ان د خلکو په منځ کې یې وویل: که هرچا وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شوی دی، سر ترې غوڅوم.
د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له رحلته وروسته د دښمنانو پر وړاندې د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه تندتیا د هرچا په خوله وه، او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په وخت کې به که هرچا د هغه مبارک وړاندې کومه لږ بې ځایه حرکت وکړ، امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه به دستې وویل: یارسول الله صلی الله علیه وسلم! امر وکړه، چې سر ترې غوڅ کړم. همدارنګه امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په عشره مبشره کې هم دی او د مقام په اړه یې دومره بس دی، چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د رحلت په

وخت کې ترې خوشال و.

امیر المؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت په وخت کې

امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه لپاره یوښه وزیر او سپین ملګری و، او د همده په واسطه خلک له حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره پربعیت متحدشول. هغه په دې وخت کې هم همداسې مستحکم او تند پاتې و، لکه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په وخت کې. سره له دې چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو نرم خویه او حلیم سړی و، مګر بیا به یې هم کله کله د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه پر رایه عمل کاوه.

## امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په خپل خلافت کې

امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په داسې وخت کې خلیفه شو، چې رښتیا هم په داسې وخت کې اسلام یو قوي او دغسې سړي ته اړتیا لرله، مسلمانان د رومیانو او فارسیانو په جګړو کې ښکېل و، چې دهماغو سیمو د فتحو لپاره د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه غوندې تېز فکره او با صلاحیته سړي ته اړتیا احساسېدله.هو! امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د خلافت مسوولیت ته اوږه ورکړه او د اسلام په تاریخ کې یوه بله زرینه پاڼه زیاته شوه.

امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه له رومیانو او فارسیانو سره هغه جنګونه چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه پیل کړي و، د مسلمانانو پر بریا پای ته ورسول او په مصر، شام، عراق او فارس حاکمان شول. هغه د حکومت تشکیلات په دومره غوره ډول جوړ کړل، چې د اسلام په تاریخ کې یادګار پاتې دي او داسې کسان یې په ښارونو حاکمان مقررکړل، چې مهرباني، نرمي، تندي او برابرې به پکې له ورایه ښکارېدل. چې د حاکمانو په ټاکنه کې د امیرالمؤمنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه خلافت یو مثال ګرځېدلی و.

الله جل جلاله دې ترې خوښ او پرې ورحمېږي.

# حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه

په څوکرښوکې دحضرت عثمان رضی الله عنه ژوند:

- حضرت عثمان رضی الله عنه د (عام الفیل) په پنځم کال وزېږېد.
- د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت کې حضرت عثمان رضی الله عنه اته پنځوس کلن و.
- حضرت عثمان رضی الله عنه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له دوو لورگانو رقیه او ام کلثو رضی الله عنهما. سره ودونه کړي دي. او دواړه یې په ژوند کې وفات شوې دي.
- دځلورویشتم هجري کال د محرم په میاشت کې یې په اویاکلنی کې د خلافت مسوولیت ته اوږه ورکړه.
- د پنځه دېرشم هجري کال د ذی الحجې په میاشت کې په درې اتیا کلنی کې په شهادت ورسید، دوولس کاله یې خلافت وکړ.
- د حضرت عثمان رضی الله عنه د نېکو کارونه یوه نمونه په یوه قرایت په یوه مصحف کې د قرآن کریم راټولول و.
- حضرت عثمان رضی الله عنه نهه زامن او اته لورگانې لرلې.
- نوم یې عثمان د عفان زوی، هغه د ابی العاص، هغه د امیه، هغه د عبد شمس او هغه د عبدمناف اموی قریشي زوی و.
- تر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پنځه کاله کشر و، او د بعثت پرکال پنځه دېرش کلن و.

## د حضرت عثمان رضی الله عنه ځینې ځانګړنې

حضرت عثمان رضی الله عنه د ښایسته بدن، نازک پوستوکي، غنمرنګ، ګڼه ږیره، بې وېښتو ککرۍ او زورور لاسونه او متې درلودې.

## د حضرت عثمان رضی الله عنه مسلمانېدل

حضرت عثمان رضی الله عنه د جهالت په وخت کې هم پاک، سخي، هوښیار او د ښې کلکې رايې څښتن و. ځکه خو یې محض د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه پر دعوت دستې کلیمه وویله او مسلمان شو. کله چې یې تره (حکم) له مسلمانېدو خبر شو، کلک یې وتاړه او ورته ویل یې: ته مو د پلرو او نیکو له دینه اوښتی یې؟ په خدای که دې پرېږدم، ترڅو له اسلامه تېر نه شې! حضرت عثمان رضی الله عنه ورته وویل: والله که بېخې له اسلامه واوړم.

تره یې ترې ناهیلی شو او څه وخت وروسته یې خوشې کړ.

حضرت عثمان رضی الله عنه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره یوداسې مسلمان و، چې خپله ټوله هستې او شتمنې یې د هغوی تر مینې ځارکړه. کله چې حضرت عثمان رضی الله عنه مسلمان شو، نو حضرت محمد صلی الله وعلیه وسلم ورته خپله لور حضرت بې بې رقیه رضی الله عنها په نکاح کړه، او حضرت عثمان رضی الله عنه له خپلې مېرمنې سره حبشې ته هجرت وکړ، وروسته

يې بيا مدينې منورې ته هجرت وکړ. هغه مبارک له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره په ټولو جلسو او غزاګانو کې و.یواځې د بدر په غزاکې یې د مېرمنې د ناروغۍ په خاطر ګډون ونه کړ، او بې بې یې د احد دغزا په کال وفات شوه، وروسته حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خپله بله لور حضرت ام کلثوم رضی الله عنها ورته په نکاح کړه، ځکه خو یې لقب (ذی النورین) شو.

دتبوک د غزا په لښکریانو کې د حضرت عثمان رضی الله عنه سخاله هیڅا پټه نه ده(د ټول لښکر درېیمه برخه یې پوره مجهزه کړه.ژ).هو! حضرت عثمان رضی الله عنه په داسې وخت کې له نړۍ سترګې پټې کړې چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له مبارکې خولې یې د جنت زېری اورېدلی و،هغه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له داسې یارانو نه و، چې پر خپل مال، شتمنې او وجود یې د اسلام لپاره کلکه مبارزه کوله.

حضرت عثمان رضی الله عنه په د حضرت ابوبکرصدیق او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهماپه خلافتونو کې له لویو، مهمو او د رایې د څښتنانو له ډلې و، تر دې چې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه له شهادته وروسته خلیفه شو.

## حضرت عثمان رضی الله عنه په خپل خلافت کې

حضرت عثمان رضی الله عنه د شپږو تنو اصحابو له ډلې د خلکو په خوښه او بیعت وټاکل شو. دوولس کاله خلافت یې وکړ، چې لومړنې شپږ کلونه ډېر ارام و، خو وروسته د عبدالله بن سبا پر

مشرۍ بېلابېلې فتنې راوزېږېدې، چې حضرت عثمان رضی الله عنه به یې ډېر ځوراوه، تر دې چې په همدې فتنو کې حضرت عثمان رضی الله عنه په شهادت ورسید.

## حضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه

په څو کرښو کې د حضرت علی رضی الله عنه ژوند:

- حضرت علی رضی الله عنه لومړنی کس دی، چې په وړوکتوب کې مسلمان شو او له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره یې لمونځ وکړ.
- حضرت محمدصلی الله علیه وسلم د هجرت په شپه حضرت علی رضی الله عنه په خپله بړستن کې پرېښود، چې په سهار کې بیاله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره دخلکو ایښي امانتونه پر څښتنانو وویشي.
- دهجرت په دویم کال حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خپله لور حضرت فاطمه رضی الله عنها، حضرت علی رضی الله عنه ته په نکاح کړه.
- حضرت علی رضی الله عنه په لس کلنی کې مسلمان شو، په درویشت کلنی کې یې هجرت وکړ،د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت کې درې دېرش کلن و او په درې شپیته کلنی کې وفات شو.
- حضرت علی رضی الله عنه د هجرت په پنځه دېرشم کال د ذی الحجې په میاشت کې خلیفه شو او څلورکاله او اته میاشتې یې خلافت وکړ.
- حضرت علی رضی الله عنه د هجرت په څلوېښتم کال په روژه کې شهید شو.
- نوم یې علی د ابی طالب زوی، هغه د عبدالمطلب، هغه د

هاشم، هغه د عبد مناف قريشي هاشمي زوی و.هغه په خپل لومړني جد(عبدالمطلب )کې له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره ګډېږي.

- کنیه یې ابوالحسن او ابوتراب وه، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به ورته ابوتراب ویل، هغه به ډېر پرې خوښېده.

## زوکړه او ماشومتوب

حضرت علی رضی الله عنه له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه دوه دېرش کاله کشر و.پلارېې د قریشو له مشرانوڅخه و،چې د اسلام په پیل کې یې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د مشرکینو له ازاره ډېروساته. داچې ابوطالب بې چاره او تنګ لاسی سړی و، نو له بعثته وړاندې حضرت حمزه رضی الله عنه او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وعده سره وکړه، چې له ابوطالب سره به مرسته کوو، نو سره ویې ویل چې باید د عیال اړوند یې غمه وخورو، څکه خو نو حضرت علی رضی الله عنه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له ځان سره بوت او دهغه مبارک په کور او غېږه کې رالوی شو.

## د حضرت علی رضی الله عنه ځینې ځانګړنې

حضرت علی رضی الله عنه غټه تنه، بې وېښتو ککرۍ، سپین وېښتان، زوروړې متې او ښایسته غنمرنګی صورت درلود.

## د حضرت علی رضی الله عنه اسلام

هغه هیڅکله د جهالت په ککړو عادتونو نه و ککړ شوی، ځکه چې په لس کلنۍ کې مسلمان شو، او لومړنی کس و چې په دې عمر کې مسلمانېږي. کله چې یوه ورځ په یوه دره کې ابوطالب حضرت علی رضی الله عنه له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره په لمانځه ولید، نو ورته ویې ویل: دا لا کوم دین دی؟

ده ورته وویل: پلاره! د الله جل جلاله پر رسول صلی الله علیه وسلم مې ایمان راوړی، هغه څه چې له الله جل جلاله نه یې راوړي منم یې او یو ځای لمونځ ورسره کوم.

ابوطالب ورته وویل: زویه! محمد دې له لارې نه باسي، تل ورسره ګرځه، ترې بېل نشې!

## حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او حضرت علی رضی الله عنه

د اسلام له پیله د حضرت علی رضی الله عنه سربښندنې او بې دریغې قربانۍ د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په زړه کې ځای جوړ کړ او ډېر پرې ګران و. په ټولو غزاګانو کې یې ګډون کړی، یوازې د تبوک له غزا د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په امر پاتې شوی. د هجرت په نهم کال چې د برائت سورت نازل شو، نو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم حضرت علی رضی الله عنه ته امر وکړ چې ترخلکو یې ورسوي.

هو! حضرت علی رضی الله عنه خپله کلکه یارانه له حضرت محمد

صلی الله علیه وسلم سره تروفاته وساتله، او رسول الله صلی الله وعلیه وسلم مخکې تر وفات پرې د جنت زېری کړی دی او له عشره مبشره څخه دی.د تېرو درې واړو خلیفه ګانو په وخت کې دهغوی کلک ملګری او پیاوړی مشاور و.

## د حضرت علی رضی الله عنه خلافت

حضرت علی رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه له شهادته وروسته د خلکو پر بیعت خلیفه شو، باندني فتوحات د کورنیو فتنو پر اساس وځنډېدل، که ژوند ورسره یاري کړې وای، داخلي فتنې ژر اوارېدای شوای. په حقیقت کې د حضرت علی رضی الله عنه خلافت د عدالت، استقامت، برکت او رحمت له اړخه یوه ډېره ښکلې دوره وه.

## د حضرت علی رضی الله عنه شهادت

د خوارجو له ډلې ابن ملجم حضرت علی رضی الله عنه شهید کړ، کله چې حضرت علی رضی الله عنه د سهار جمعې ته روان و، ابن ملجم کمین ورته ونیو او د تورې وارونه یې پرې وکړل، خلک پرې راټول شول او ابن ملجم یې ونیو، حضرت علی رضی الله عنه ته یې وروست، هغه مبارک وفرمایل: د نفس قصاص نفس دی، که زه مړشوم، هغه هم مړ کړئ، او که بچ شوم، بیا به نظر درکړم.

هو! حضرت علی رضی الله عنه دوه درې ورځې وروسته له دې زخمونو نه د هجرت په څلورم کال شهید شو. هغه د اصحابو له

ډلې یو وتلی عالم او فقهیه و. هغه یو زړور، پرهیزګار او زورور سړی و، دهغه د فضیلتونو اړوند امام احمد رحمه الله فرمايي: د هيڅ صحابي د حضرت علی رضی الله عنه غوندې فضايل نه دي بيان شوي.

پای.

الحمد الله

۹.۱۰.۱۳۹۲

کابل، ده عربان.

شپه دوولس نيمې.

الحکمت کتابتون اړیکه 0765697124

Scanned with CamScanner

الحکمت کتابتون اړیکه 0765697124

خپرندویه ټولنه - ګردېز

علمي خپرندویه ټولنه
پکتیا د ګردېز ښار غزني لین د حاجي عبدالحمید ګردېزي تجارتي مارکیټ
اړیکښمېرې: 47 1740 0797 ,90 2881 0772 ,41 9363 0772
برېښنا لیک: ilmiketabtoon@gmail.com